خلاصة الاسلام، نور نامه او الف نامی په نامه شو ولی ده، چی د دانشمند بر یښ د همد غه یادښت له مخی مشتری نجرابی د ملی آرشیف د پښتو خطی نسخو په فهرست کی د دغی نسخی دغه دری سره رسالی ځانله ځانله معرفی کړی دي (۱۵) .

د دي لیکنی په دي بر خه کی غواړم، چی د نافع السلمین د لیکوال، د ده د ژوند پر زمانه او د ده د سبك پر څرنگوالی څه خبري وکړم :

د مؤلف بشپړنوم میر حسین دی، البته د انوم د نافع المسلمین په مقدمه کی راغلی دی د کتاب په تولو رسالو کی د انوم یوازی د حسین په نامه ضبط دی، د کتاب په مقدمه کی مؤلف وایی دي :

«فقیر حقیر میر حسین الهروی» له دي بیانه څخه ښکاري چی میر حسین د هرات د تو ابعو او سیدونکی و، د اچی په هرات کی چیري اوسیده ؟ په دی باب ما ته څه معلومات نشته. د دي لیکنی له مخی دا هم څرګنده شوه چی د خلاصة الاسلام مترجم حسین او د نافع المسلمین میر حسین هروی دوه اړه یو سړی دی ځکه تر دي د مخه مو ږ دادوه دوه بیل بیل اشخاص بلل (۱۶) .

د میر حسین هروي د ژوند د زمانی په باب باید وایو چی خوشبختانه د لنینګراد د ختیځ پوهنی د انستیتوت د نسخی په پای کی مؤلف د خپل کتاب د بشپړتابه تاریخ داسی بیان کړی دی :

۱۵- مشتری، عبدالقدیر، فهرست نسخ خطی پښتو آرشیف ملی، ۱۳۶۵ هـ ش، د کلتور ریاست ص ۳ ص ۵ ص ۲۰ .

۱۶- هیوادمل، زلمی، فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ج ۱ ص ۱۳۲ ص ۵۰۱ چاپ سال ۱۳۵۶ کابل تألیف و ترجمه مطبعه تعلیم وتربیه ..

« ز ر او یا کنو نه‌له هجر ته و و تیر شوي

چی‌تما م می دا کتاب کړ »

له‌دې‌یادو نی څخه‌ښکار ي‌چی‌میرحسین دیو ولسمی پیړی‌په دوران کی‌ژوند کړی‌دی.دغه‌ر نگه‌دنافع المسلمین دشکلی‌سکښت په باب بایدو و ایو چی ددغه کتاب ز یاته‌بر خه‌مؤ لف(داستاد ر ښتین په‌وینا) په‌نیم منظو م سبك(وړمه ص۳۷د د ۱۳۴۱ ه ش کال ه ـ ب گنې) او یاداچی‌په‌مسجع او نافیه و ال نثر کښلی‌دی . دلیکنو او تر جمو سبك‌یی‌تر ډیر ځایه‌داخو ندد ر و یزه (۹۴۰ - ۱۰۲۸ ه ق) دمخز ن‌الاسلام غو ندی‌دی ، دنمو نی‌اپاره دمیر حسین داتو ته :

«دافقیر چی‌عر بی یادافار سی پښتو کو ینه، بل‌غر ض‌یی‌پکښی‌نشته،دایی‌و اړه شفقت ر افغان‌باندی کیږي.دافقیر یو خاکپای د کل عالم دی» (۱۷) .

او و رسره دمخز ن‌الاسلام داتو کر :

«دافقیر چی‌شفقت‌په‌پښتنو کا کلی‌دین‌د پاك نبی‌و ر و ښنه ،هرچه یادې‌په‌دعا کا هغه کس‌دې خدای‌په‌دین او به‌دنیا نه‌شر مینه .» (۱۸)

دمسجعو نثر ی رسالو ترڅنگه‌میر حسین‌د و ې منظو مې رسالې هم‌لر ي .دا دو اړې رسالې رسانظمو نه‌دي.دارسالې دو ې الف نامې‌دي،چی‌یو ه‌الف‌نامه‌یی دغز ل‌ډو له‌نظمو نو او قطعاتو په‌چو کاټ کی نظم کړې‌ده.تو ل‌اته‌و یشت‌غز ل ډو له‌نظمو نه یاقطعی‌پکی خو ندي‌دي،یو ه نمو نه‌یی دلی‌د ر و ړاندې کیږي :

---

۱۷ ـ نافع‌المسلمین (خطی) ص ص ۱۹ - ۲۰

۱۸ ـ مخز ن‌الاسلام مرتضایی‌مطبعه د ۱۲۷۴ ه ق کال د پیښو ر چاپ‌ص ۲۹

لـــف اســم د الله دی بـــل سرمـه گوره پـه پـراتـه
دی پـه ذات کی یگـانـه دی شریـك نـه لـری لـه ذاتـه
هم زنده په خپـل وجـود دی تـرس یـی نشتـه لـه مـماتـه
دواړه کونه په ده هـست دي هـیڅ نـشتـه لـه ده پـراتـه
ي یگانـه دحـق پـر لارشـه هـمـیـشـه د ده پـــر لارشـــه
شاه بـه وو یـنی حضـوره اي طالـبه له جمله غـیره بیز ارشه
درو یـشا ن باردارې ونـی تـه پـه ونه کـی انـارشـه
دادنـیـا دغـم دریـاب دی ځنـی وو ځـه بـر کـنـارشـه
غیرې مینی کـل اغزی دي اې طالبه ته بیرون له دغه خارشه
امـاره نـفـس دې کـافردی له کافره سره تل په کار زارشـه
کـه دی دا کافر رعیت کړ ویـره مـه کـړه بـرقـرارشه
دنـوس ډیر رنگـه فتـنی دي غـافـل مـه شـه خـبـردارشـه
ددې لارې رهـزن ډیر دي اې طـالبه غافـل مـه او سه بیـدارشه
خار وخـس له زړه بیـرون کړه پـه دلـبر پـسـی نـظـارشـه
چې سرې وینـی پرې صرفه کړی دغـه نوم د عـاشـقی پر تـابـارشه
لا روخدای ته محبت دی تل له ذاته که طالب یی ته سالك پر دغه لارشه
نیکخواه دې لږ ښه دې ډیر دي اې حسینه پـاك الله دې نگهـدارشه

دمیر حسین بله منظومه رساله دده بله الف نامه ده، چې دا الف نامه یی دمربعو نو په چوکاټ کی نظم کړې ده. دالفبا هر تورې په پنځو شپږو سر بعو نو کی شرح کړی دی، چې په دې حساب دده ددې الفنامی دمر بعو نو بندو نو نه ترسلو پنځو سو پورې رسی.

دایی هم نمونـه :

الف ، ابتدا دې په نامه کوم الله

بنده پوردی له گـناه

کهسـتار حم پر ما وشی

زه به نه دروسم بی راه

* *

راهنمایی وا ړه له ټاده

زما امید تکیه په تا ده

چی تکیه په تاو به کا

همه چاریی شوه تباه

* *

لـــه تـبـــاه مـی امـان کـړې

زهمی ستا په مینه ځـوان کړې

ستا طلب پـه ما آسان کړې

دغه هـسی سوال دې تل کړم له درگاه

حاجی زبر دست بټې زی او دده آثار

دلنیګر اد دختیځ پو هنی دانستیتوت په خطی کتابو نو کی د پښتو تجو یدیو کتاب خو ندي دی، چی پر و فیسو ر ډورن د تار یخی او فیلالو ژ یکو ځیرنو په بو لتن کی پترز بورګ ته د دې کتاب درسیدو خبر و ر کړی دی ،دده له یادو نی ښکار ي چی

دا کتاب دنو لسمی پیړی په پنځوسمو کلونو کې د ځای ته رسیدلی دی (۱۹) ولادیمیر و اسیلو و یچ کوشیف په خپل فهرست کې دا کتاب د ذخیره القاري تر سرلیک لاندې رامعرفی کړی دی (۲۰) خو موږ باید داخبره و کړو، چې د دې کتاب نوم ذخیرة القاري نه، بلکه ذخیرة القراء دی لکه چې زبر دست خپله ویای دي :

نوم یې ذخیرة القراء شه

جوړ بر ای عندالله شه

دو لادیمیر و اسیلو و یچ کوشیف په فهرست کې دا کتاب یوازې د ذخیرة القاري په نامه معرفی شوی دی، حال داچې په همدې نسخه کې ترذخیرة القراء و روسته دحاجي زبر دست یوه بله منظومه رساله گوتې هم شته، چې ماورته د «درود» عنوان ورکړی دی، او د کتاب له متن او موضوعا تو سره هیڅ اړه نه لري .

د دې کتاب ناظم حاجي زبر دست دي، چې خپل ځان په دې توګه پرمو ږ پیژ نی:

نوم زما دی زبردست	کم طا قت خا لی سی دست
بو لم ځان زوی د کر م	یم تر خد ای پو ري ډیر گرم
هم نمسی یم دجلال	نفس شیطان کړمه ملال (۲۱)

دده داعادت نه دی، چې د خپل هر کتاب په پای کې ځان معرفی کو ي . لو ړ یتونه ماله روضة النعیم څخه رانقل کړل ، د ذخیرة القراء په پای کې یې و یلی دي

---

۲۱ ـ روضة النعیم (خطی) د ملی آرشیف نسخه ص ۱۰۳ .

گنهکار نو س پر ست یم　　په معصیت کی ز بر دست یم
زه یم ز و یه د کر م　　په تحقیق تر الله گر م
زه له اصله بتی ز ی یم　　د جلال مر حو م نمسی یم (۲۲)

په پښتانه شعر اء دو هم تو ک(۲۳) کی دی کا کړ بلل شو ی دی. دا دبی ستوری دلو سړي تو ک(۲۴) په تعلیقا تو کی یی دی بتی ز ی بللی دی، اکاد یمیسین عبدا ـ لشکر رشاد ویلی دي چی : بتی ز ي په تور و تر ینو کی یوه پښه ده، حاجی ز بر دست پخپله د کنز القر اء په مقدمه کی ویلی دي: «حاجی ز بردست ترینی افغان بتی ز ي».

دده دژ و نددز مانی په بر خه کی باید و و ایو چی :د حاجی زبر دست بتی ز ي د ز و کړي او مړینی د نیټو په باب کر ه معلو مات له مو ښر ه نشته، یواز ې د و مر ه و یلای شو ، چی ده خپل یو کتاب په ۱۲۱۵ ه ق کال، بل په ۱۲۲۰ ه ق کال او دریم په ۱۲۲۶ ه ق کال نظم کړي اولیکلی دي. له د غونیټو څخه سړي اټکل کو لای شی چی ز بر دست به د دو لسمی پیړی د دو همی نیما یی د کلو نو په ترڅ کی ز و کړي و ي، او ژو ندیی تر ۱۲۲۶ ه ق کال پو ر ې یقینی دی. دده استو ـ ګنځای پښتانه شعراء د کندهار شاو خوا ښوولی دی ، داسی ښکار ی چی دده استو ـ ګنځای به دلو ی او پخوا نی کندهار شاو خوا سیمی و ي .

۲۲ـ رشاد ، عبد الشکو ر (اکادمیسین) د پښتو تجو یدو نو تار یخچه ، افغانستان دعلو اکادیمی ۱۳۵۹ ه ش کابل ، دو لتی مطبعه ص ۲۵ .

۲۳ـ ر ښتین، صدیق الله (پو هاند) پښتانه شعر اء ج ۲ پښتوټو لنه ، ۱۳۲۱ ه ش کابل عمو می مطبعه ص ص. ۴۳۰ ـ ۴۳۱ .

۲۴ ـ (بـر یښـن) ادبی ستو ر ي ج ۱ پښـتو تـو لنه ، د ۱۳۵۳ ه ش دو لتی مطبعه ص ۱۰۲ .

ددهدغه لاندی آثار سو یته معرفي :

۱ـ ذخیرة القراء : دقرآن عظیم تحو یددی، تول پنځه و یشت فصلونه لري او د بیتو نو شمیره یې ۹۲۱ ته رسیږي .دمثنوی په قالب کی نظم شوی دی .ددې کتاب خطی نسخې ډیرې دي.دوې نسخی یی دافغانستان دعلومو اکادیمی په کتابخانه کی، یونسخه یی په ملی آرشیف کی؛ دوې نسخی یی زما په کتابخانه؛ دغه رنګه داستاد رشاد ،دانشمند بریښ، پروفیسور سیال کاکړ په کتابخانو کی یی هم نسخی شته، یوه نسخه یی د پیښور پوهنتون په کتابخانه کی هم خوندي ده . خو په تولو خطی نسخو کی یی پخوانی نسخه دغه ده چی په لنینګراد کی ساتل کیږي اوپه دې فهرست کی معرفی شوې ده .

دذخیرة القراء تجو یدپه دهلی اولاهور کی چاپ شوی هم دی پخوانی ماته معلوم چاپ یی د ۱۲۹۵ هـ ق کال دی ، په حاشیو کی یی دتجویددوې نورې کوچنۍ رسالی هم چاپ شوې دي .

دتیر شاعران مؤلف دزبردست ذخیرة القراء ،فیض الله اخو نزاده اوهم احمد ته منسوب ګڼلی ده (۲۶) دایوه تیروتنه ده .

۲ـ کنز القراء : داهم یوه تجو یددی چی حاجی زبردست په ۱۲۲۰ هـ ق کال په پارسی ژبه کښیښی دی.ددې کتاب په مقدمه کی یی دخپل پښتو تجو یدیادونه هم کړې ده .دکنز القراء یوه خطی نسخه داستاد رشاد په کتابخانه کی ،(۲۷) ښه د

---

۲۵ ـ مشتری ، عبدالقدیر ، فهرست نسخ خطی پښتوی آرشیف ملی، د ۱۳۶۵، ملی آرشیف، کابل، دولتی مطبعه. ص ۷۵.

۲۶ ـ تیر هیر شاعران ص ۱۲۵ ص ۲۵۷

۲۷ـ دپښتو تحو یدونو تاریخچه ص ۲۷

پروفیسور محمود شیرانی (۱۸۸۱ - ۱۹۴۶ ع) په کتابخانه کی (۲۸) دوی یې ما په هندوستان کی لیدلی و ی ؛ یوه د مولانا ابو الکلام آزاد لایبریری په حبیب گنج کولکشن کی او بله د بمبی د جامع جومات په کتابخانه کی .

۳- روضة النعیم: روضة النعیم د حاجی زبردست پښتو مثنوی ده، چې د نوي احاد پښتو ترجمې و راندې کوي، ددې کتاب د معرفی په باب د زبردست خپله وینا داده :

نوم یې روضة النعیم دی	جوړ په فضل د رحیم دی
خزانه د دین دنیا ده	د عقبی توښه دې دا ده
تیر سو دي پنځلس زیاته	جمله ټول د احد یثانه
د اکتاب او ه و یشت بابه	شو یو ځای جمع ارابه (۲۹)
او س خاتمه د دې کتاب	گوره کړې له ثواب
و وله هجر ته ز ردو سو کاله	شپږ و یشت نور هم ز مالاله
و کړ رب لطف و انعام	چې شه دا کتاب تمام

ددې کتاب یو ه خطی نسخه د افغانستان په ملی آرشیف کی (۳۰) او دو یې نورې نسخې یې د پروفیسور ولی محمد خان سیال کاکړ او د انشمند بریښنا په کتابخانو کی خوندي دي (۳۱)

۲۸- حسین، دکتر محمد بشیر، فهرست مخطوطات شیرانی ج ۱ د ۱۹۶۸ ع کال چاپ لاهور ص ۷۰.

۲۹- روضة النعیم (خطی) ص ۵،

۳۰- فهرست نسخ خطی پښتوی آرشیف ملی ص ص ۷۷-۷۸

۳۱- (بریښنا) ادبی ستوری ج ۲ د کلتور او هنر ریاست ۱۳۵۹ ه ش کابل دولتی مطبعه ص ۳۷۴.

دیادو نی و ړده ، چې له ماسره د ر و ضة النعیم په نامه یو بل چاپی کتاب هم شته ، چې تو ل خصو صیات یی دحاجی ز بر دست له ر و ضة النعیم سره یو شی دی. دا کتاب په ۱۳۰۵ هق کال په لاهو ر کی چاپ شوی دی ، تو ل مخو نه یی یی ۲۷ دی. خو ددې ر و ضة النعیم مترجم او ناظم محمد رفیق دی(۳۲)

۴- د ر و د: دااثر تر او سه دحاجی ز بر دست په آثار و کی نه دی معرفی شوی دا منظو م اثر دمخمس په کالب کی نظم شوی دی . تو ل بندو نه یی ۱۸ دی . دا منظو مه حاجی ز بر دست په ډیر قوت نظم کړې ده. ددې ر سالی خطی نسخه دلنینگر اد دختیځ پو هنی دانستیتوت په خطی کتا بـو نو کی ساتل کیږي . دا نسخه لـه ذخیر ة القرأ سره مله را غلی ده ، او تـر ذخیر ة القرأ و ر و سته دیوې ځانګړې ر سالی په توګه تر بسم الله و ر و سته پیل شوې ده. ما هم دیوې ځانګړی ر سالی په توګه دې فهرست کی معرفی کړې ده.

۹- مناجات: دا مناجات دمثنوي په قالب کی نظم شوی دی. دخطی ر وضة - النعیم دپای په (۱۵-۴ مخو نو) کی خو ندی دی : دپیل بیتو نه یی دادی:

الله عرض کـړه و تـاتـه نظر کړه دلطف و ما ته

جمله خو است می کړه قبو ل په خدمت دخیل رسو ل

او پای یی دادی :

دز بـر دسـت و کـړه بخښنه روی دحضرت دی ز ما څښتنه

خدایه پر لطف و کر م داد کړه و جنت و ته یی آزا د کـړه

۳۲-فر هنګ ادبیات پښتو ج ۲ ص ۱۱۵ په فرهنګ کی دحدیقو و شمیر ۱۳۵ چاپ شوي دي ، چاپی پیر و ته ده.

٦- مناجات : دامناجات دمخمس په قالب کی نظم شوی دی ، ټول دولس بند ونه لری اود خطی روضة النعیم په ۱۵۵ - ۱۵۸ مخونو کی خوندی دی ، دپیل بندیی دادی :

له تا خدایه دمغفرت کوم غوښتنه دخپل حبیب په عزت وکړې زما بخښنه
داهر کار می کړه په خپل رحمت تښتنه عفو کړه په عطوفت زما پښتنه
د کلام په روی می و بخښی تښتنه

دانشمند بریښ په ادبی ستوري (۳۳) کی کښلی دي، دپښتو پوهنتون په کتابخانه کی چی دذخیرة القرأ کومه نسخه شته، دهغی په پای کی هم دزبردست یو نعتیه مخمس او یو منقبت خوندی دی . کیدای شی چی داهم دده دیادو شوو روستیو دریو آثارو دو همی نسخی وې او یایی هم بیل ځانګړی منظوم رسایل وی.

دولس خبری

دلنینګراد دختیځ پوهنی دانستیتوت په خطی کتابونو کی ددولس خبرې په نامه یوه کوچنی رساله شته چی، دنولسمی پیړی ددو همی نیمایی دلوړیو کلونو په دوران کی سنت پترزبورګ ته رسیدلی ده . پروفیسور ډورن چی دتاریخی اوفیلالوژیکو څیړنو په بولتن کی ددې اثر نوم یادکړی دی هغه د ۸۵۸ ع کال شپی ورځی دی (۳۴).

۳۳- ادبی ستوري ج ۲ ص ۳۷۵

۳۴- بولتن ۹۸ مخ.

کپره یی(و روسته و رکړل شوې) ؛نومره: ۹۶۰ الف کتابخانه :دلنینگراددختیځ پوهنې انستیتوت .

خصوصیات : دادرشیدالبیان یوه ناقص‌الاول او ناقص‌الاخر نسخه‌ده ؛ چې په عادي نسخ خط په ساده ډول په تورهسیاهی کښل‌شوې ده .خطاط په نسخه کی دعنوانو نو ځای سپین پر یښې دی .او دابه یی ددې‌لپاره سپین پر یښې‌و ی ؛چې په سره رنګ یی‌ولیکی،مګرلاس یی نه دی و ر رسید لی ، دنسخی‌د ۸ مې پانې‌یوه څنډه‌له‌لاندې خوا خوړل شوې ،چې دسرمت په‌صورت کی‌یی ددې پانې متن‌ناقص کړی دی .

سوجود پیل : هم‌ته‌وګنه‌مطلق *دخیرې لوسته حق

پای : له‌سازده کړه روژه داره * نیک‌عمل نیک‌کرداره

«۹»

فوایدالشریعت

لیکوال : اخوند قاسم ؛ دتالیف کال : ۱۱۲۵ هـ ق ؛ دلیکلوکال : نامعلوم خطاط : نامعلوم ؛ خط :نسخ ؛ دپانوشمیر:۲۹۹ ؛ دهرمخ کرښې : ۱۵ ؛کچه : ۲۰ × ۱۱ نیم سم ؛ دمتن کچه :۱۶ × ۷ نیم‌سم ؛ کاغذ : وریښمین ؛ پښتی: چرمی ؛ نومره : ۲۴۵۰ ؛ کتابخانه: دلنینگراد د ختیځ پوهنې انستیتوت .

خصوصیات : دفوایدالشریعت‌دغه‌نسخه‌ددې کتاب‌له‌ډیرو وښو خطی‌نسخو څخه حسابیږي .ځکه په ډیر ښکلی نسخ خط په تورهسیاهی د دوه کرښیز وسرو جدولونو ترمنځ کښل‌شوې ده .د (فایده) کلمات او دبابونو عناوین په توله نسخه کی په‌سره رنګ لیکل‌شوي دي .دنسخی دبابونو شمیرپه‌فهرست کی

و لادیمیر و اسیلو و بچ کو شیف په خپلو کتابو نو دختیځ پوهنی انستیتوت پ.تو خطی نسخی (۳۵) او پېتو خطی کتابو نه کی دارساله په همدی نامه معرفی کړی ده .

په رساله کی د رسالی لیکوال مانه کړ پیدا. دارساله په نیم منظوم ډول او کله پوره نظم کښل شوی ده او دایی هم نمونه:

کعب الاخبار هسی و یلی

چی مومنان دې و پوهیږي

ده و یې تو ریت می لوست یارانو

که باور دې دفتیر په و یل کیږي

دو لس خبرې می راو کښی

و اړه معرفت د ی بیانیږي

په پ.تو کی سو پ ددو لس خرې نامه یوه بله رساله گوتی هم لږ و چی ،دارساله د حبیب الله له دیوان سره مله راغلی ده .ددې دو اړو رسالو محتویات کا بویو شی دي ،خو د حبیب الله رساله رسا نظم د. چی دایی د پیل څو بیتونه را اخلم :

نقل د کتاب د ی سایی کړی د ی بیان

جو ړگویاو جـ دی چی په یادیی کا افغان

یار ودر سول جی وم دده کعب الاخبار و

ده د ي داو یلی که پوهیږي مومنان

۳۵ـ د کو شیف فهرست ۶۵ـ۶۶ مخونه

ماو کوت توریت دولر خړې می حاصل کړې
و اړه معرفت یې د یریلتون د ی چې جداشی یوزمان(۲۶)

دشمس الدین فرایض میراث او مذهب نامه

دلیکنګر اد دختیځ پوهنی دانستیتوت په خطی مجموعه کی دشمس الدین دو ې رسالی خو ندي دی، چې یو ه یې فرایض میراث او بله یې مذهب نامه نو میږي. دغه دوا ې رسالی پر و نیسو ردو رن لیدلی دي. اوددغو رسالو یادو نه یی د ۱۸۹۸ کال په خپل یو ه یادښت کی کړې د ه (۳۷).

دپښتو ژ بی محو ان لیکو ال محمد معصو م هو تك د ۱۳۶۵ ه ش کال دزم ې په دو وګنو کی(۳۸) ددغو رسالو دمؤ لف او ناظم شمس الدین په باب خو رابی مقالی کښلی دي. ده په دې مقالو کی و یلی دي چې شمس الدین په قام غلجی او د کندهار دمیوند دولسو الی په کشك نخو د کی اوسیده او دژ و ند زمانه یی د دولسمی پیړی او اخر او د دیارلسمی پیړی او ایل اتکل کیدای شی ، د هغه چې ده مذهب نامه په ۱۲۰۰ ه ق کال لیکلی ده.

بابا ولی هو تك دده په آثارو کی د خلاصة المریدین ، سراج الموتی ، مرحوم- الموتی او تحفة العابدین یادو نه کړی ده. دپښتو دنثر تاریخی او تنقیدی جایزه

---

۲۶ - د حبیب الله دیوان دم . ع . ع . په زیارد . ۱۳۶ ه ش کال چاپ پښتو تولنه کابل ، دولتی مطبعه. ص ۱۷۱

۳۷- د تاریخی او فیلالوژ یکو څیړنو ، بولتن د ۱۸۵۸ ع کال د دسمبر ه نیته ص ۳۹۷ .

۳۸- زیری د ۱۳۶۵ ه ش کال ۱ - ۲ - ۳ - ۴ - ګڼې .

(۳۹) نومی کتاب کی دنور و آثار و په استناد په غلطه سراج الموتی شمس الدین کاکړته منسوب به بلل شوي ده .

دادی ددې فهرست په وسیله دده دوه نور کتابونه هم معرفی کیږي. ددې کتابونو نورې خطی نسخی بل ځای ماته نه دی معلومی ، او نه تر اوسه چاپ شوی دي .

دده په دغو دو و آثارو کی یوه رساله ، فرایض میراث نومی، چی دمیراث په باب بحثونه لري. بله رساله یی مذهب نامه نومیږي چی له یوې مقدمی سر بیره دامام اعظم (رح) اوددې دمذهب په باب ډیر مفید معلومات لري، او ځینی قصص یی هم په دې خصوص کی بیان کړي دي .

مخزن الاسلام

په دې فهرست کی دمخزن الاسلام درې نسخی معرفی شوې دي. ددې کتاب په باب له ماسره څه زیاتی خبرې نشته ، مادې کتاب په باب د هند د کتابخانو پښتو خطی نسخی ، په تعلیقاتو کی شرح و رکړې ده (۴۰) خو څه چی زه د لی یادوم دادي چی :

دمخزن په ډیر و خطی نسخو کی دابیتونه لیدلی شی :

سوال

به صحرایی عدم خوش خفته بودم	مرا بانیستی خود خوشی بی بود
زخواب خوش مرا بیدار کردی	نمیدانم ترا زین چیست مقصود

۳۹ـ دپښتو نثر تاریخی او تنقیدی جایزه ص ۲۸۰ .

۴۰ ـ د هند د کتابخانو پښتو خطی نسخی ۲۲۴ ـ ۲۲۹ مخونه

جـو اب

به‌صحرایی‌عدم خوش‌خفته بودی تر ابانیستی خویش خوشی‌یی‌بود
زبهـر معرفت بیـدار کـردم یقین‌بدار همین بود ست مقصود

ماچی‌دمست‌د کلیات له خطی نسخی‌څخه‌دده منتخبات چاپ ته برابرول نو سی‌دده‌په کلیات کی‌هم‌لو ړپار سی‌بیتو نه‌پیدا کړل.مادغه‌بیتو نه داسی گنل‌چی گو ندې دمست‌دي.نو سی دده‌په‌منتخباتو کی وا خیستل (۴۱) و روسته‌چی‌سی دمخزن‌الاسلام په‌خطی‌نسخو کی‌هم دابیتو نه‌وموندل ،نو ملا مست ته‌ددغو ـ بیتو نو په‌نسبت کی شکمن شوم.

مناقب‌غوث‌الاعظم

دلنینگراد دختیځ پوهنی‌دانستیتوت‌په‌خطی‌پښتو کتابو نو کی داحمدشاهی عصر د کثیر الکلام شاعر حافظ رکن الدین ابن‌منیر دنظم کړي مناقب‌غوث‌الا ـ عظم‌یو ه‌خطی‌نسخه‌هم‌شته‌چی،ددو رن‌په یاداشتو نو کی ددې کتاب‌یادو نه‌نه‌ده شوې،او داسی ښکار یې‌چی دانسخه به‌وروسته ددې ځای علمی‌مراکزو ته رسیدلی وي .

دانسخه د کوشیف‌په‌فهرست کی د(او ان‌الشرع فی‌لمناقب الغوثیه)په‌نامه معرفی شوې ده (۴۲)نه پوهیږم‌چی‌ښاغلی کوشیف به د انوم له کومه‌ورته کښلی‌وی ؟

ددې‌مناقبو ناظم رکن الدین غوري‌خیل‌دی چی،داحمدشاه‌بابا (۱۱۶۰ـ

۴۱ـ هیوادمل،زلمی،دمست‌منتخبات ۱۳۶۴ هـ ش کال‌چاپ،پښتو‌تولنه ۶۰ مخ
۴۲ـ قانون‌القرائت ۱۸ مخه ددهلی په‌فاروقی مطبعه کی‌چاپ‌شوی‌دی* .

۱۱۸٦ هـ ق) په‌دو ران کی د پښتو ر په هز ار خانی کی هستیده .د قانون‌القرائت (۴۲) او حفظ‌الاداب(۴۳) په‌نامه یی‌دو ه پښتو تجو یدو نه نظم کړي دی.بل‌اثر دغه‌دغو ث‌الاعظم‌دمناقبو پنلہ کتاب دي چې ،یو ه‌مقدمه لري او بیا په‌بابو نو او فصلو نو و یشل‌شو ی‌دی؛په‌پای کی یو ه‌خاتمه لري، دامنا قب تر او سه‌نه‌دی چاپ‌شوی،یو ازي‌دمقدمی‌خه برخی‌یی‌چې دلو ی احمدشاه باباپه‌ستاینه کی‌و یل شو ي؛داحمدشاهی شاهنامی چاپو و نکو ددي‌اثر دچاپی‌نسخی په‌پای کی‌و ر- اچو لی‌دي (۴۴) چې‌د همدغو چاپی‌منتخباتو له‌مخی‌داسې‌په پښتانه شعر اء کی معرفی‌شو ی دی (۴۵).ددي منا قبو یو ه‌خطی نسخه زما په کتابخانه کی،بله‌د پر و فیسور سیال کاکړ په کتابخانه او بله‌هم د پیښو ر د پښتو اکیډیمی په خطی مجموعه کی‌خوندی دی (۴٦) .

داحمدشاه‌بابا دیو ان

د تاشکند د ختیځ پو هنی‌دانستیتوت په‌خطی کتابو نو کی داحمدشاه‌باباد یو ان یو نفیسه‌نسخه شته‌چې،ما په‌دي‌فهر ست کی‌معرفی کړي ده .

لوی‌احمدشاه‌باباد .۱۱٦-۱۱۸٦ هـ ق)د خپل‌سیاسی‌اواجتماعی سیرت‌ترڅنګه د پښتو ژ بی شاعر هم‌دی،دد ه‌دشاعری په‌باب د ه‌دز مانی‌شاعرعبدالله‌و یلی دی:

---

*۴۳ ـ دسیکنز ی فهرست ص ۴۱

۴۴ـ احمدشاهی شاهنامه ضمیمه ۱۹٦۵ ع کال چاپ د پیښو ر ، پښتو اکیډیمی ص ص ۲۱۱ - ۲۱۵ .

۴۵ـ خدمتګار عبدالله ،خپړندو ي،پښتانه شعر اء څلو رم ټوک د ۱۳۵۷ هـ ش کال چاپ، پښتو ټو لنه کابل ،دو لتی مطبعه ۹۷۵ مخ .

۴٦ ـ فر هنګ ادبیات‌پښتو ج ۲ ص ۲۰۴ .

هم عالم‌دی هم شاعردی　　په‌نکتو کی ډیر ساهردی
چی‌دد ه‌دیوان هیر ا دی　　په تحقیق سره هیر ا دی
تر هیر الکه فایق د ی　　مشتمل په دقایق دی
هرغزل یی‌عشق‌اویزدی　　هر یو بیت یی درد امیزدی (۴۷)

له‌ختیځ پو هانو څخه‌مو نټستو ر ات‌الفنستون (۱۷۷۹ -۱۸۵۹ ع)، هانري جارج ز او رتی (۱۸۲۵-۱۹۰۶ع) پادري‌هیو ز، تر یورچچلی‌پلاو ډ ن، جیمز- بلو مهارټ‌او نو ر دی دشاعر په‌تو ګه پیژ نی او دده ددیو ان او اشعار و یادو نه کو ي .له‌دې ډلی څخه‌الفنستون په‌د ې باب لیکلی دي :

«د‌پښتنو دشاعر انو له‌جملی نه مو ږ باید داحمد شاه نو م هم‌له‌یاده نه و باسو ، دی په‌پښتو ژ به کی‌یو اثر لري‌چی د هغه‌په‌باب خان‌علو م یو ه‌لو یه او له‌زحمت ډ که تبصره (۴۸) لیکلی ده . . . .» (۴۹)

دده د پښتو دیو ان خطی نسخی ډیر ې دی چی ،څو مهمی‌یی لاندې یادو م :

دتاشکند دختیځ پو هنی‌دانستیتو ت نسخه‌چی ،دباباد دیو ان په‌خطی نسخو

---

۴۷ ـ عبدالله،فتاو ای‌احمدشاهی ددهلی چاپ ،فار و قی مطبعه، ص ص ۴-۵ .

۴۸ـ له‌تبصر ی څخه مقصدشرح ده ،اوخان‌علو م داحمدشاه‌بابا دالفنانی‌شرح په پښتو ژبه کښلی ده چی په ۱۳۵۶ هـ ش ،کال د پو هاند رشا د له څیړنو سر ه په کابل کی‌چاپ شو ه .

۴۹ـ النستو ن ، د کابل سلطنت بیان د پو هاند د کتر کا کړ اوسو یمن تر جمه د ۱۳۵۹ هـ ش کال ، دافغانستان علو مو ا کادیمی کابل‌دو لتی مطبعه ص ۲۱۰

کې ډیره ښه نسخه ده . دبرټش میوزیم نسخه (۵۰)دانـډیافس نسخه (۵۱) د افغانستان دملي آرشیف نسخې(۵۲) دپښتو رډیښتو اکـیډیمی نسـخې (۵۳) د سلیمی کندهاري نسخې (۵۴) دمحمدمعصوم هوتک نسخه (۵۵) او یوه نسخه یې هم زماپه کتابخانه کـې خونـدي ده .

د احمدشاه بابا دیوان لومړی ځل په ۱۳۱۹ هـ ش کـال پـه کابل کې د پښتو ټولنې له خوا دلوی استاد علامه حبیبی په زیار چـاپ شو ،ټول مخونه یې ۳۸۳ دي او نظمونه یې له ۶۳ مخ څخه شروع شوي دي .علامه حبیبی دامتن ددریو خطی نسخو له مخې ترتیب او چاپ کړ؛ په پیل کې یې یوه اوږده علمی مقدمه هم وکښله،دا کتاب دلوی احمدشاه بابا په نامه په وړه قطع چاپ شوی دی.

دادیوان دوه هم ځل په ۱۹۶۳ ع کال د پښتو اکیډیمی چاپ کړی دی . دامتن قاضی هدایت الله تدوین کړی دی، مقدمه یی هم پرکښلی ده . د مولانا عبدالقادر یو یادښت هم ورسره خپور شوی دی ، مقدمې یی شل مخـه دی او متن یی

---

۵۰ ـ دبلو مهارټ فهرست د ۱۹۰۵ ع کال دلندن چاپ ص ۲۰ .

۵۱ ـ دمیکنزي فهرست ص ۷۹ .

۵۲ ـ فهرست نسخ خطی آرشیف ملی افغانستان ص ۴۶ ـ ۴۸ ؛ دلی دباباد دیوان خلور خطی نسخی شته .

۵۳ ـ رشاد، اکادمیسین عبدالشکور د گلشن روه مقدمه ص ۹۱ د پښتو اکادیمی کی د بابا دیوان دوې نسخې خوندي دي .

۵۴ ـ دسلیمی په کتابخانه کی دباباد دیوان دوې نسخې شته .

۵۵ ـ هوتک ، محمد معصوم ، زیری د ۱۳۶۵ هـ ش کال ۷ ـ ۸ ګڼه .

په ۲۳۶ مخ نو کې چاپشوی دی .دبابادديوان منتخبات په‌گلشن روه (٥٦) کليد افغانی (٥٧) بهسارستان افغانی (٥٨)،شکرستان افغانی (٥٩) او نورو - مجموعوکـی چاپ شوی‌دي .

دده ددیوان یوغټ منتخب په ۱۳۵۷ هـ ش کال په کابل کی د پښتو څېړنو دبين‌المللی مرکز له‌خوا چاپ شوی دی . دامنتخب د تاشکـند دخطی‌نسخی له مخی اکادمیسین رشاد تهیه کړی ، اوکاند یداکادمیسین عطایی یوه مقاله پر کښلی ده .

دبابا‌په‌دیوان کی‌غزلی ،مخمسونه‌او رباعیات او نورنظمونه خوندي‌دي. بابایوه الفنامه هم‌لري چی‌دغزلو په کالب کی یی نظم کړي ده . ددهالفنامه دعربی‌الفبا‌په‌چوکاټ کی‌نه‌ده، بلکه‌دپښتو الفبا‌په‌چوکاټ کی‌یی تنظیم کړي‌ده. په‌دې‌معنی‌چی دپښتو ځینی خاص‌تورې ،لکه : ډ ،ټ، څ ، ښ او نورې‌هم‌د په‌یوه یوه غزله کی تشریح کړي دي .

---

٥٦ - راورتی ، هانري جارج ، گلشن روه د ۱۳۵٦ هـ ش کال چاپ کابل دولتی مطبعه ص ۲۰۳ - ۲۱۲ .

٥٧ - هیوز ، کلید افغانی - د ۱۳۵٦ هـ ش کال چاپ ، کابل ، دولتی مطبعه .ص ۳۸۱

٥٨ - رضوانی ، میر احمدشاه بهارستان افغانی د ۱۸۹۸ ع کال چاپ لاهور ص ص ۹۰ - ۹٥

٥٩ - رضوانی ، میر احمدشاه ، شکرستان افغانی . د ۱۹۰٥ ع کال چاپ لاهور. ص ۱ - ۲

د تیمورشاه دیوان

که څه هم د تیمور شاه دیوان په پارسی دی ، مګردا چې پښتو غزلی هم لری نو ما هم د ده د دیوان هغه دوې نسخې چې دتاشکند اود وشنبې دخټیځ پوهنتون په انستیتو نو کې خوندي وی، دلې په دې فهرست کې معرفی کړې .

تیمور شاه (۱۱۶۰ - ۱۲۰۷ هـ ق) دخپل دانشمند پلار لوی احمدشاه بابا په څیر د پښتو او دری ژبو شاعر و ،په دری ژبه یې مکمل دیوان پر ینبی دی،خو په پښتو کې یې ماته یواز ی دری غزلی معلومی دي .

البته زمونږ په تذکرو کې دده یوازی دوې پښتو غزلی راغلی دی (۶۰). د تیمور شاه د دیوان خطی نسخی ډیرې دی ، استاد وکیلی یې اووه نسخی حساب کړې او دده د دیوان په مقدمه کې یې شو و لی دي (۶۱) د تیمور شاه دیوان داستاد عزیز الدین وکیلی پوپلزي پښزیا ر او اهتمام په ۱۳۵۶ هـ ش کال په کابل کې چاپ شوی دی.د دغه دیوان په پیل کې ۸۲ مخه مقدمه راغلی ده، په ۸۳ مخ کې د دیوان سیتن پیل شوی دی .

---

۶۰ ـ حبیبی، عبدالحی(علامه) پښتانه شعراء ج اپښتونه ـ ۱۳۲۰ هـ ش کال چاپ عمومی مطبعه ص ۳۳۹

۶۱ـ وکیلی،عزیز الدین ،مقدمه دیوان تیمور شاه د ۱۳۵۶ هـ ش کال چاپ کابل دولتی مطبعه.ص ۱۸ - ۲۲ .

د عبدالحميد سومند ديوان

دلينگراد ختيځ پوهنې دانستيتوت په خطي کتابونو کې د عبدالحميد سومند ددیوان یوه خطي نسخه شته چې دحميددیوان په معلومو نسخو کې له نورو نسخو څخه حسابيدلای شي ،او داځکه چې نسخه سالمه ده .دپروفيسور دورن په يادښتونو کې ددې نسخې يادونه نه ده شوې ،داسې اټکل کيدای شي چې دانسخه بدورسته هغې سيمې ته رسيدلې وي .

دعبدالحميدسومند ددیوان خطي نسخې ډيري پيدا کيږي . دغه لاندې نسخې يې ماته معلومې دي : دافغانستان په ملي آرشيف کې يې پنځه نسخې (٦٣) زما په کتاب خانه کې يې درې نسخې ،دافغانستان دعلومو اکاديمۍ په کتابخانه کې يې يوه نسخه (٦٤) دپښتو رښتونې اکاديمۍ په کتابخانه کې يې يوه نسخه همدارنګه يوه يوه نسخه يې په برټش ميوزيم (٦٥) او انديااافس لايبريري (٦٦) کې خوندي دی دپاريس په ملي کتابخانه کې يې هم يوه نسخه شته (٦٧) . دغه رنګه په خينو نورو

٦٣ـ نسخ خطي پښتوی آرشيف ملی ص ص ٦١ - ٦٢ .

٦٤ـ دانسخه داستادجاويد وه ،او س دافغانستان د علومو اکاديمۍ په کتابخانه کې خوندی ده .

٦٥ـ دبلو مهارت فهرست ص ٢٠ .

٦٦ـ دميکنزي فهرست ص ٧٨ .

٦٧ـ د بلوشه فهرست ص ص ٢٩٨ - ٢٩٩ .

۷۴ ښول شوی دی .مګر په متن کی ۷۹ بابه مکمل شته ؛ خو داچی نسخه ناقصه ختمه شوې ده ؛ښایی نو ر ې بر خی به یی هم در لو دې . د نسخی د پیل او ه پانی د لاندې خوانیمی خوړل شوې او له منځه تللی دي . ۲۹۸ پانه هم لږ شو ړیدلی او د سر مت له اصله یی د ب مخ متن یو څه له لوستو و تی دی .د ۲۹۹ مې پانی نیمایی هم له لاندې خو انشته .د نسخی په حاشیو کی هم کله د کاتب په خط او کله هم په یو بل خط کښنی سو ندلی کیږي .د دې نسخی په پای کی دو ې نو ر ې پانی هم شته چی د یو ې پانی الف مخ سپین دی . خو په (ب) مخ کی د (محمد) په نامه د یو ه شاعر ډیر ه خو ندو ر ه غز له خو ندي ده .(د اغز له د دې کتاب په پنځه بر خه کی خو ندي ده)

و ر پسی د بلی پانی په الف مخ کی ځینی عر بی عبار ا ت او په ب مخ کی یی دغه لاندی پښتو عبار ات را غلی دي . په کال کی او ه رو ځی هز ار رو ز ې د ی او ل دو ه و یشتم د حسن حسین چی په دغه رو ځ رسول د خدای امامت کړی .دو م رو ځ دو لسم دو پسی خو رو ه ، چی په دغه رو ځ رسول د خدای زو کړی دی ، او ه و یشتم د خدای میاشت چی په دې رو ځی رسول د خدای معر اج لر ه تللی و ه ، شپیتم پنځه د میاشت د سنځمبانی .

پیل : تر فهرست و روسته له او له بابه:

ثنا خاصه دا لله ده له ازله تر ابده .

له بنده که له سو لا ده

له او لاده په غفلت یی غږ په و شی چی کو چمال دی

و او ری په زړه پند کړي عچی . . .

شخصی کتابخانو کی هم دعبدالحمید سو مندد دیو ان خطی نسخی شته، چی ددغه دیو ان داو م چاپ په مقدمه کی ښو و لی دي (٦٨)

د عبدالحمید مو مند دیو ان تر اوسه او مځله په دې ډو ل چاپ شو ی دی

١- د ١٢٨٦ هـ ق کال دمحمدی مطبعی چاپ .

٢- د ١٢٨٧ هـ ق کال دبمبی چاپ .

٣- د ١٢٨٥ هـ ق کال دبمبی چاپ .

٤- د ١٣٣١ هـ ق کال دلاهو ر چاپ

٥- د ١٣٣٠ هـ ش کال چاپ ،داستادربښتین په زیار .

٦- د ١٩٥٨ ع کال دپښتو ر چاپ ،ددکتر انو ارالیحق په زیار .

٧- د ١٣٦٣ هـ ش د کابل چاپ ،دزلمی هیوادمل په زیار.

سربیره پر دې دعبدالحمید مو مند ددیو ان منتخبات هم په ډیر و خطی او چاپی مجمو عو کی چاپ شو ی دی ، چی له هغی جملی څخه کولای شو ، دغه لاندی کتا بو نه یاد کړو :

١- چمن بی نظیر .

٢- چمن بی عدیل و گلشن بی تمثیل .

٣- دملاښایسته خان جو نگ

---

٦٨ - هیوادمل ،زلمی دعبدالحمید مومند د دیوان ١٣٦٣ هـ ش کال چاپ پښتوتو لنه کابل گو ندی مطبعه مقدمه ص ٨٧-٩٠.

۴- گلشن روه .

۵- کلیدافغانی او نورې پیرې خطی او چاپی مجموعی ،چی تفصیل یی دلی نه څاپیریې،او مادعبدالحمید موسمنددیوان پهمقدمه کی په دې باب مفصلی خبری پرې کړې دي (٦٩) .

د عبدالرحمن موسمند دیوان

پهدې فهرست کی دعبد الرحمن موسمند(۱۰۴۲ هـ - ۱۱۲۸ هـ ق) هغه خلور ناقصی او بشپړی نسخی معرفی شوی دي چی،دلینگراد ختیځ پوهنی پهانستیتوت کی ساتل کیږی .پروفیسور دورن لهدغو خلورو نسخو څخه لهځینو استفاده هم کړې ده،او کوشیف په خپل فهرست کی له دغو نسخو څخه درې نسخی معرفی کړې دي.(۷۰) او خلورمه یی څکه نه ده معرفی کړی چی، دانسخه ناقصه اودباباد دیوان دیوی بلی نسخی څو پانی دي چی په یوه پاکټ کی ایښو ول شوي دي.

دعبدالرحمن بابامو منددیوان پهباب د کتابپوهنی ضرورې معلوماتمادهغه د کتابخانو خطی نسخی نومی کتاب په تعلیقاتو کی راوړي دي،نوځکه زه هغه خبری بیانه تکراروم خو یواز ې د ومره وایم چی ، په ۱۹۸۴ ع کال د عبدالرحمن بابامو مند ددیوان انتقادي متن بیاله پیښو ره چاپ او خپو ر شو .

٦٩- دعبدالحمید مومنددیوان مقدمه، ص ۹۱ - ۹۲ .

۷۰- دکوشیف فهرست ، ۳۷ - ۴۲ مخونه .

ددې نوې چاپې نسخې دمتن د ترتیب کار د سرحوم استاد دوست محمد خان کامل (۱۹۱۵ - ۱۹۸۱ ع) او سرحوم صنوبر حسین مومند (۱۸۹۷ - ۱۹۶۰ ع) په زیار پیل شوی و، چې و روسته بیا د قلندر مومند په زیار بشپړ او دده له یوې لنډې سریزې سره چاپ او خپور شو.

ددې کلیات چاپ د عبدالرحمن بابا مومند ددیوان د چاپونو په لړۍ کې یو منبه اضافه ده. په دې کلیاتو کې د بابا غزلې یو مخمس او یو مسبع خوندي دي. ددې کلیاتو ټول مخونه ۳۰۶ دي، یوه کوچنۍ سریزه استاد قلندر مومند پرکښلې ده (۷۱)

عبدالرحیم هوتک او د ده دیوان

عبدالرحیم هوتک د پښتو له نومیالیو شاعرانو څخه دی چې د کلات د سیوري په نامه بولان کې زوکړی و. دی په دري کلنۍ کې کند هارته راغلی و، او د کاله یې په کند هار کې تیر کړل او په لس کلنۍ کې له خپلې کورنۍ سره نیشاپور ته لاړ، بیا له نشابور څخه تهران او له هغه ځایه هم تللی دی، لس کاله یې په دې زمکو کې تیر کړي دي، د عمر په شل کلنۍ له دې زمکو بخارا ته تللی او د څو ند تر پایه هو ر ې پاتې شوی دی همالته مړ او ښخ دی.

دې داتو ملیزي زوی او د دلك سلطان نمسی دی، لکه چې خپله یې وایي دي:

دملك سلطان نمسی یم داتو ملیزي زوی یم
ګلر خانو یم خوار کړی، او رسی درست په ځان بلیزي

دده د څو ند د زمانې په باب زمونږ په ادبي خیړنو کې په اټکلي ډول خبرې

۷۱ـ قلندر، مومند، د رحمان بابا کلیات مقدمه الف ـ ب مخونه.

شوی دی او دده دزوکړي کال یې ۱۱۳۰ هـ ق کال ښودلی دی ، او ژوندیی و رته تر ۱۲۱۰ هـ ق پورې یقیني بللی دی (۷۲)، مګر دعبدالرحیم هوتک د دیوان په یوه خطی نسخه کی یو یادښت ماداسی لیدلی دی :(دیوان عبدالرحیم هوتک قندهار ی ستوفی سنه ۱۱۶۲ هـ ق مدفون دربخارا) په همدی نسخه کی بل یادښت داسی دی :(دیوان عبدالرحیم هوتک قندهار ي اغلباً متوفی سنه ۱۱۶۲ هـ ق مدفون درشهر بخارا) که دالیکنې حقیقت ولری نو دزوکړي او ژوندزمانه یی یوبل تحقیق ته اړه لری چې دایی ځای نه دی .

له عبدالرحیم څخه په پښتو کی یو شکلی دیوان مو رته راپاتی دی، چې، داشعارو سبک یی زمونږ دمشرانو پوهانو دخیرنو له مخی دعبدالرحمن بابا مومند دسبک تابع دی (۷۳) .

دعبدالرحیم هوتک دیوان تر اوسه نه دی چاپ شوی .دغه لاندی خطی نسخی یی مالیدلی دي :

۱ـ دافغانستان دعلومو اکادیمی نسخه : ددده دیوان په ټولو نسخو کی تر ټولو گرانبیه او قیمتی نسخه ده اودا څکه چې دشاعر په خپل خط ده ،ددی نسخی په منځ منځ کی داخو نددرو یزه او ځینو نو روشاعرانو اشعار هم خوندي شوي دي .

۲ـ دپښتو رد اسلامیه کالج نسخه :دانسخه ۱۳۶ مخه ده ،لومړی اته مخونه یی

۷۲ـ (بریښ) دسره غړه گلونه ، د ۱۳۵۷ هـ ش کال چاپ کابل دولتی مطبعه ص ۳۰.

۷۳ـ رښتین صدیق الله (پوهاند) دپښتو دادب تاریخ ،د ۱۳۲۵ هـ ش کال چاپ ،پښتو ټولنه کابل عمومی مطبعه ص ۸۰ .

لو یدلی‌دي ، په۱۲۷۹ هـ ق کال کی لیکل شوي ده ټولی۳۰۷غزلی پکی‌راغلی دي .دانسخه په‌دي کتابخانه کی په ۹۶۷ ; نومره خوندي‌ده ،او مولوي عبدالرحیم مرحوم یی هم‌په‌خپل فهرست کی لنډه‌معرفی کښلی‌ده (۷۴).

۳ـ دلینگراد دختیځ پوهنی دانستیتوت نسخه :دانسخه ترټولو بشپړنسخه ده،او ماپه‌دي‌فهرست کی معرفی کړی‌ده .

۴ـ داستاد بینوا نسخه :دانسخه‌مادګران ورور دانشمندبرینی‌یه‌وسیله‌لیدلی ده ،ناقصه‌نسخه‌ده ټولی‌شل‌بشپړی‌غزلی‌تری‌تر لاسه کیږي،دانسخه به‌ډیر بدخط لیکل شوي ده .

دعبدالرحیم ددیوان‌منتخبات‌لوي‌استاد مرحوم‌علامه‌حبیبی(۱۳۲۸-۱۴۰۴ هـ ق) په‌طلوع افغان کی نشر کړي دي ،او دا نشمند بریښد ده‌پنځه‌ویشت غزلی دسر غره گلونه نومی مجموعه کی چاپ کړی دي.

گلشن افغان

ددي کتاب په‌باب تر۱۳۴۳ هـ ش کال پوری زمونږه ادبی څیړنو کی‌څه نه‌دي نشرشوي،په‌دغه کال څیړندوی خدمتګارددی کتاب‌په معرفی کی‌یوه مقاله‌و کښله‌چی په۱۳۴۳ هـ ش کال په کابل مجله کی نشرشوي ده (۷۵).

۷۴ـ عبدالرحیم (مولوي) لباب المعارف العلمیه ، ـ د ۱۳۱۸ هـ ق کال چاپ ، اګره ص ۳۸۷.

۷۵ ـ کابل مجله ۱۳۴۳ هـ ش کال دمیزان‌ګڼه ص ۱ ـ ۱۵ علی‌اکبر ... او دهغه دیوان دخدمتګار لیکنه .

دخپرندوی خدمتګار تر لیکنې و روسته د کابل عامه کتابخانې ددې کتاب ما-
یکروفلم راوغوښت ،او ددې مایکروفلم له مخې پردې کتاب لوې استاد علامه
حبیبي یوه بله مقاله وکښله چې وروسې مجلې نشر کړه (۷۶) تردې وروسته دد ی
کتاب مؤلف او ناظم زموږ ادبي خپرنو او پښتو تذکرو ته لاره پیدا کړه .

دا کتاب دشاعر دخوپارسي متنونو رسالو او هم دپښتو او پارسي نظمونو
مجموعه ده ،چې شاعر یې نوم ګلشن افغان ایښې دی . په دې باب دلیکوال او شاعر
خپلې خبرې د دای :

« . . . و چون این ګلدسته مشتمل بر از هار الفاظ رنګین و متضمن آثار معانی شیرین است
بالقای حضرت یزدان به ګلشن افغان موسوم ګشت . . . »

دا نسخه تر اوسه د دې کتاب یوازینۍ معلومه نسخه ده ، بله نسخه یې تر اوسه چیرې
بل ځای نه ده لیدل شوې . دا نسخه هم سر دفه اوسر تبه نه ده او ډ ل شوې ، بلکه دیو
بیاض شکل لري .

دا کتاب تصویرونه او لوحې او ګلکارې هم لري ،تصویرونه یې زیاتره
دمؤلف او ناظم علي اکبر پـه ژوندا و مشرب اړه لري . په زیاتره تصویرونو
کې مؤلف خپله لیدل کیږي ،او دخپلې خیرې لاندې یې داحقر کلمه لیکلې ده .د
(احقر) دکلمې خط د بیاض دمتن له خطسره یو ډول دی،دخط دا یو شانو الی او هم
دبیاض په ډول دنسخې او ډنه سره په دې باور ي کوي چې دا به په خپله دمؤلف

---

۷۶ - وړمه (مجله) د ۱۳۴۷ هش کال ځلورمه - پنځمه ص ص ۴۶ - ۵۱
دعلي اکبر او ر کزي دیوان یا ګلشن افغان دعلامه حبیبي لیکنه .

نسخه وي ، او د ده په خپل خطدي کښل شوي وي ،اودا احتمال هم شته چې تصو-
یرونه او ګلکاري دی همده په خپله کښلي وي .ځکه دی په هندوستان کې ګر-
ځیدلی دي او له دي هنر سره اشنا ښکاري ، لوحې ، میناتورونه تصویرونه
او ګلکاري یې سړی د کشمیر دمکتب په کارونو کې ځیرلای شی .

دمیر زا دیوان

په دي فهرست کې دمیر زا د دیوان دوه نسخې نامعرفي کړي دي .دادواړه
نسخې دورن لیدلی دي او په خپلو یادښتونو کې یې دهغو باد ونه کړي ده .زه
په دي تعلیق کې د دي کتاب په باب اضافي خبرې نه لرم ،ځکه په دي خصوص کې
مادهند د کتابخانو خطي نسخې نومې کتاب په تعلیقاتو کې مفصل بحث کړی دی
صرف دومره وایم چې، د دي فهرست د (۲۳۵۱ نومره) نسخې د پیل دمخ په
برخې څنډه کې کښل شوي دي :

«فتح خان یوسفزي د پاره د پښتنو درویشانو» .

زما په اټکل دغه یاداشت د خټکو پوهانو په کړیو کې یوه اشتباه پیدا کړې وه،چې
ګوندې دا دیوان د فتح خان یوسفزي دی، لکه :جارج راورټی چې د پښتو ګرامر
دلومړي چاپ په مقدمه کې داخبره کړې ده . (۷۷) او بیا یې زمونږ خیرنو ته هم
سرایت کړی دی .پښتانه شعراء هم دا نظر اخیستی دی. وروسته بیا داخبره سمه
شوه. راورټی هم سمه کړه،اوزمونږ په خیرنو کې هم سمه شو چې، فتح خان یوسفزی
میرزا نه دی .

---

۷۷ - راورټی ، پښتو ګرامر (مقدمه) د ۱۸۵۵ ع کال چاپ کلکته ص ۴ .

ددې فهرست جونګونه

په دې فهرست کې ماڅو جونګونه او هغه کتابونه هم ښوولی دي چې، په حاشیو او ملحقاتو کې یې متفرق پښتو پارکې خوندي دي . زه په دې تعلیقاتو کې په ځینو دغسې جونګونو هم خبرې کوم .

۱ - په دې فهرست یو جونګ هغه دی چې فاضل محمد تهیه کړی دی، او دمخزن په پای کې یې راوړی دی . دا جونګ دمخزن له تولو ملحقاتو او مطالبو پرته خانګړی او بیل اثر دی، دغسې تعلیقي برخې چې د خانګړو جونګونو حیثیت لري دمخزن په زیاترو نسخو کې لیل کیږي . په دې فهرست کې راغلي لومړنی جونګ ددغو شاعرانو پارکې راغلی دي .

بابو جان (پوپارکی) : نصیحت که په خوله زایم بې اثره

رحمان بابا (پنځه پارکی) : دوباره دې راته نشته په دنیا

ورځ دې تیره په شومۍ کړه شپه په خواب

په ورځ ناست یې بې طلب

بدلوې په دنیا دین و ایمان ولی

چې له مرګه فراغت شوم په هردم

شیر محمد (دریم پارکی) : یاګوښه وای له سړیو

محمد رسول ددوو کونو سرو ردی

یو بیان به درته وایم مختصر

جان محمد (یوپارکی) : بدلیپکر دبیلتانه زاته و لاړشه

عمر (یو پارکی) :دگو رغه تنگه خونه

رحیمداد (یو پارکی) : ترشیرین اسمدی خارشم محمده

خواجه محمد (یو پارکی) : محمده ستاو لو رته بهسفر کړم

داحمد یو پارکی : جنت یی روغ کړیه زیرگلونه

۲ ـ دو هم جونګ چی ماپه دې فهرست کی معرفی کړی دی، په هغه جونګ کی دلاندی ـ شاعرانو پارکی خوندي دي :

دخوشال خلور پارکی : زړه چی نه وي مبتلا

که حلال په څان حرام کا

چی ایر وغوندې پروت په دربارنه وي

ولی په کوڅه دهغه یارنه کړې گذر

دخوشحال په دغه منتخب کی دری غزلی داسی دي چی په کلیات کی راغلی دي (۷۸) دو هم پارکی ، (که حلال . . .) یوه قطعه ده چی مادخوشحال کلیات پیدانه کړه شایی مانه وي پیدا کړې ؟.

عبدالقادر (یو پارکی) : ته چی هسی بی نظیره دلبرنه یی (۷۹)

۷۸ـ خوشحال کلیات ۱۹۶۰ ع کال چاپ پښور اداره اشاعت سرحد .

ص ص ۲۰ ـ ۲۱ ص ص ۳۶۱ ـ ۳۶۲ ص ص ۱۰۶ ـ ۱۰۷

۷۹ ـ دعبدالقادر خان خټك دیوان ۱۹۷۲ ع کال د پښور چاپ ص ۲۰۹.

دولت (یو پارکی) : دافلك چی دوه یاران خپل اشنا (۸۰)

پاینده (یو پارکی) : داپارکی ماټول ددې دفهرست په پنځمه برخه کی ورا ند ې کړې دی .

۳ـ دمنتخباتو د معرفی په لړ کی ما دیو پنډ پارسی کتاب په منځ کی را غلی پښتو بیتونه او نارې هم د یو ځانګړی اثر په توګه معرفی کړې دی . په جونګ کی دوې ناری خو ند ی دي چی ، دوارې د فتح خان پر یځی او رابیاد نکل دی او زه یې یوه دلته راوړم :

پر شاخ پاتو سوم یو ازی

د کو کارناری و هم سیل می ارما ن دی،

پتی خان و یـل د ننه

زړه می تو ردی

آس دی خپل زیـن که کړمه

چی خپل وطن را پو ری او ردی

په دې منتخب کی یو داسی بیت هم را غلی دی چی ټولو ونکی و رته کښـلی دی :

میر و یس ا فغان:

عرض می نـه لګی پر ناتمام پاچا

څو به کومـه پر یادو نه

۸۰ـ ددولت دیوان د ۳۵۳ ۱ ش کـال چاپ کابل ،پښتو ټولنه ص ۱۳۳ .

«۱۰»

قصیدهٔ سر یانی (دعای سریانی)

و یونکی او سترجم: بابو جان ؛ دو یلو کال : نامعلوم ؛ خطاط: عز یز ؛ د خطاطی کال : نامعلوم ؛ خط :نستعلیق ته‌متمایل نسخ ؛ دپانو شمیر : ۳ ؛دهر مخ کرښی : ۲۱ ؛ کچه : ۲۲ × ۱۹ سم ؛ دمتن کچه :۱۹×۱۳ سم ؛کاغذ : خو قند ی ، پشتی : کاغذ ی ؛ نو سره : ۱۹۰۲ کتابخانه . دلنینگراد د ختیځ پو هنی انستیتوت .

خصو صیات : دبابو جان د دعا ی‌سر یانی دغه‌نسخه دشمس‌الدین درساله میر اث او پارسی فقر نامی سره‌یو ځای گنډل شو ی ده . نسخه‌په ډیر معمو لی‌خط په‌تو رمسیاهی لیکلی‌شوې د ه . خو کاتب‌ددعاعر بی متن‌په‌سره‌رنگ‌لیکلی‌دی خطاط منظو م متن دنثر په‌دو د کښلی دی ،او دسر یو دبیلتون لپاره‌یی‌په‌تو ره میاهی خوتکی سره‌خنگ په‌خنگ ایښی دي .

دنسخی‌په‌لو مړی پانه الف‌مخ کی په‌پارسی ژ به ځینی‌شرحی هم‌راغلی‌دي . ددې دعاپه‌پای کی‌یوه پښتو ایمان نامه‌شته .او د دریمی پانی په بل‌مخ کی‌یوه منثو ره پارسی رساله شر و ع شو ي ، چی‌ناقصه‌ده .ددعاد دریمی‌پانی دالف‌مخ برخی خنډه له‌منځه‌تللی ،او بیاسر ست شو ي ده ، چی متن‌یی ناقص کړی دی .

پیل : تر بسم‌الله و روسته :

اناالمو جود فاطلبنی‌تجدنی	فان‌نطلب‌سو ایی لم تجدنی
زه سو جودیم همیشه	که‌طلب‌لر ي درو یشه

دابیت سو ډلپاره ډیر مهم دی*او دا څکه چی دا بیت دیوه دری (پارسی) ژبی‌له خوا ضبط شوی دی. اودا تو ربه څوک بیانه لګوی چی دا بیت ده یاهغه‌پهسیر و یس نیکه پوری تړلی‌دی. دابیت‌سو پته زیری را کوی چی زمو ږملی مشر اروا نیا د حاجی‌میر و یس‌خان نیکه هم دشعر طبع درلوده، دا اوداسی‌نو ربیتونه یی جو ړو ل. ادب روزنه اوادب پالنه د دوی په کورنی کی لهدهپیل شوی وه.ماچی‌لهجو نګه‌دابیت‌را نقلوه نوسی‌په مغزوکی دریدی خان سومند دا بیتونه راګرځیدل،چی‌په محمودنامه کی بی‌و یلی وو:

اوس به‌نو تاته حکایت کړم د بتو
خو ږروایت دګرګین خان دوژلو
چی‌میر خان تللی اصفهان ته‌ونه
مخ یی‌مکی د پاک سبحان ته‌ونه
پاچاتی عرض کړ تول اقوال د پښتون
دګرګین ظلم بداحوال د پښتون
پاچا و یل زه نسوای کو لای چاره
دګرګین خان ظلم وستم د پاره (۸۱)

---

* ـ پارسی‌او تاجیکی نسخی،دا کیموشکن ، کوشیف او نورو ...
د ۱۹۶۳ ع کال چاپ مسکو ص۳۷۲ .

۸۱ ـ محمد هوتک پټه‌خزانه عکی چاپ ۱۳۵۴ هـ ش دپښتو انکشاف، کابل دولتی مطبعه ص‌ص ۷۱-۷۸.

دسیرویس خان نیکه هغه یوبیت دسوضوع له پلوه په پته خزانه کی د محمود نامی له تول منتخب سره سل په سلو کی سمون لري .

د زقوم قصه

د لنینگراد د ختیځ پوهنی دا نستیتوت په پښتو خطی کتابونو کی د زقوم د قصی یوه ناقصه نسخه هم شته، نسخه د پیل له خوا بشپړه ده، خو د پای له خوا کم شوی ده، او بناغلی کوشیف دا قصه د کتاب زقوم په نامه را پیژندلی ده (۸۲) . ماچی دا نسخه ولیدله ظاهر آمی ددی قصی د ناظم نوم پیدا نه کا، خو کله چی می دا تعلیقات کښل نو می د لنینگراد له نسخی څخه خپل ا خیستی یادښتونه د ابراهیم د زقوم د قصی له خطی نسخی سره وکتل ، له مقایسی څخه دا راته ښکاره شوه ، چی د لنینگراد نسخه هم د ې قصی بل نقل دی، چی د پای له خوا ناقص دی او وروسته د کاتب دلاسو هنو له امله یی په عبارا تو کی تغییرات هم پیښ دي .

---

۸۲ - د کوشیف فهرست ص ص ۷۱ - ۷۲ .

دلنینگر اد نسخه داسی شروع شوی ده :

یوه ورځ دمدینې په جماعت کې رسول ناست وو یارانو

ده به دین بیاناوه نه ناګهانه جبرائیل له حقه راغی پر رویدار

په تعظیم یې ورته داوی ای حبیبه

خدای سلام په تاویلی په بار بار

په دالو ریوه قلعه ده د کافرو

دابراهیم دزقوم دقصې خطی نسخه داسی پیل شوی ده :

یوه ورځ دمدینې په جماعت کې رسول ناست وه

جبرائیل له حقه راغی پر رویدار

په تعظیم یې ورته داوی ای رسول

خدای سلام پرتاویلی په بار بار

یو قلعه ده د کافرو فهم دار شه

دلنینگر اد نسخه داسی ختمه شوی ده :

دطوطا په دود دی خیژي چې بار

که داهسی غیږدې یارا باندې وکړ

دا ارو ابه سی جداشی له صورته په دنیا کې

سخته چارشوه ورد وچاره

بیاعلی وی زه مزری دلوی بادشاه یم

دوا په کونه سی لحاییږي په منقار

دالو ړ عبارات دابراهيم دزقوم دقصې دخطي نسخې په لسمه پانه الفمخ (۷۳) کې داسې راغلي دي :

دطوطي به دو د دي څيڑ ي چې ښار

بياعلي و ي اي بې عقله زه مز ر ي دلوی با دشاه يم

دو اړه کو نه سې ځايږي په مـنقار .

دزقـوم دقصې ناظم ابر اهـيم دسوات دسيـمـې او سيدو نکـې و ، ژوندې تر ۱۲۰۰ هـ ق پـو ر ي يقـيني دي (۸۳) .

دمحبوبا او جلات قصه

دلنينگراد دختيځ پوهنې انستيتوت په خـطي کتابونو کې د محبوبا او جلات دقصې يو ه ناقص الاول نسخه خو ندي ده . دانسخـه سره له دې چې ناقصه ده ، خو ښيګړه يـې داده چې دپاى له خوا بشپړه ده او دناظم نوم پکې ښکـاره دي.

ددې قصې يو ه ناقص الاخر نسخه زمو ږ له پو هانو سره و ه ، چې د پښتانه شعراء دليکلو په و خت کې يې تر ې استفاده کـړې ده . په دې نسخـه کې دناظم نـو م نـه و خر ګنـده نو ځکه يې په پښتانه شعراء کې داسې يو ازې د کـو د يزي په نامه مـعـر في کړې و

---

۸۳ ـ داخطي نسخه زما په کـتابخانه کې خو ندي ده ، او په ۱۲۸۰ هـ ق کال کښل شوې ده.

۸۴ ـ تير هير شاعران ص ۶۴ .

(۸۵) کنه‌چی څو کاله‌دسخه زمونږ په‌مطبوعاتو له‌روسی مناً بعودترجمی‌له لیار ې ددې کتاب په‌باب څه نشر شول .نو داتری پکاره شو مچی د مطبوعاتو جلات دقصی‌ناظم څداعظم کودیزی دی چی داقصه یی په ۱۱۸۸ هـ ق کال منظومه‌ترجمه کړې‌ده .ددې‌قصی‌په‌منځ منځ کی کودیزي نار ې هم په‌دې‌لاندې‌ډول خوندي کړې دي :

چی محبوب هم زربدله وخونکارته وویله

نو رخونکار هم زربدله ومحبوب ته وویله

نارہ : واوره اې محبوبه زه په‌نورو خلقو ننګ کړم

ستا ابك به‌زه‌پرې نږدم گوره

اوس په‌میدان‌به‌یې‌خورنګ کړم

ددې‌قصی نسبتاً‌یوه بشپړه‌نسخه چی‌یواز ی دپای څوبیتو نه‌یی نه و،دارګ په کتابخانه کی وه (۸۶) . اوس دانسخه د افغانستان په‌ملی‌آرشیف کی خوندي

---

۸۵ - پښتانه شعراء ۲ ص‌ص ۳۰۳ - ۳۰۴

۸۶ - دبورکوی فهرست د ۱۹۶۴ ع کال دقاهری چاپ ص ۴۷،بورکوی دانسخه د محبوبا او جلات په‌نامه نه‌ده معرفی کړې ،بلکه کښلی‌یی دي قطعه یی چندازشعراء (نامسلم ولی‌الله ، خونکار ...) بورکوی هغو قطعو (نارو) خطا ایستلی دی ، چی دقصی په‌منځ کی‌راغلی‌دي.

ده (۸۷) . ددې قصې له چاپه نه يم خبر، که چيرې څوک ددې قصې د چاپ خواهش لري له دو اړو نسخو څخه يو ښه متن ته ه کو لاي شي.

فرهنګ

دلږ ځنګر اد دختيځ پو هنې دانستيتوت په خطي کتابو نو کې د يادښت د کتابچې په ډول بوفرهنګوتي شته چې، پښتو لغاتونه يې پارسي او آلماني لغتونه د معنې په ډول کښلې دي، د کو شيف دو يناله مخې دو رن دالغوي ياد ښتو نه د کلا پروت او ايو رسمين ديادښتو نو له مخې کښلې او ترتيب کړې دي .

د کلاپروت يو اثر مالډلې دې چې په ۱۸۱۰ ع کال په پټر ز بو رګ کې چاپ شوې دی ، همدارنګه دايو رسمين سفر نامه : له اورنبورګ نه تر بخارا پو ر ې په ۱۸۲۳ ع کال په برلين کې چاپ شوې ده .ددې سفر نامې دپاى په ځلو ښتو مخيزه ضميمه کې دپښتو په باب خبرې او ددې ژبې دلغاتو بولست راغلې دی (۸۸) ددورن دافر هنګ و لا ديمير و اسيلو و يچ کو شيف دپښتو پارسي او آلماني فر هنګ . . . په نو م معر في کړې دی (۸۹).

---

۸۸ ـ فهرست نسخ خطي پښتو ي آر شيف ملي ص ۸۸

۸۸ ـ و يمه مجله د ۱۳۵۶ هـ ش کال ۲ ګڼه ، ۱۷۰ کاله پخوا دپښتو ژبې په باب څه ړنې دپهو ال او حکيم ليکنه ص ۱۱۷ ..

۸۹ ـ د کو شيف فهرست ص ۲۳ .

ضمیمه

دفهرست دپنځمی برخی دشاعرانوپه باره کی

زه ددی تعلیق په ضمیمه کی دفهرست په نسخو کی د راغلو متفرقو پارکو په شاعرانو
باندی خبری کوم ، داپارکی ماگرده دکتاب په پنځمه برخه کی راوړی دی:

احمدخان

دکتاب دپنځمی برخی لومړی پارکی دا حمدخان نومی شاعر دی. کله چی
سړی د احمد خان د اغزل و لولی ، نو به په ذهن کی و رته داخبره راوگرځی

چې دابه‌گوندې داحمدخان‌شیخ وي. خو چې‌سړې دهغه‌شرح حال او نورپاړکې وګوري، نو لاسې‌به‌په‌دې‌عقیده‌شي‌چې‌احمدخان دپښتو شاعري‌په‌اولسي آهنګو نو بدلي‌و یلي‌دي او داحمدخان‌په‌نامه‌داغزله‌د هغه‌شیخ احمدخان‌نه‌شي کیدای. نو بیا به‌داسې فکر وکړي چې دابه‌داحمد شاه بابا غزله وي. خو چې دهغه ادیوان سره یې هم‌سړي وګوري نوهم‌وري به‌یې هم‌پیدانه‌کا، که‌د څېړ ونکي‌فکر فرهنګ ادبیات پښتو ته و رشي نو هله به و رخرګندشي چې داغزله‌داحمدخان په‌نامه دیوبل پښتانه شاعر ده (۹۰). کله چې سادفر هنګ لوسړي‌توک‌تو لاوه نو دلټون‌په‌لړۍ کې‌مې‌تل له‌فاصل‌استاد اکاد. یسین رشاد سره ډیرښه‌ګډون‌وکړ. استاد یوسف ورځ په خپله لورینه دشوتو شاعرانو نو مونه‌راکړل چې یو یکی دغه احمدخان و. استادوویل‌چې دا احمدخان داحمدشاهی‌عصر (۱۱۶۰-۱۱۸۶هق)دزمانې سړی‌دی. دده په‌باب اغلبې معلومات‌له‌ماسره نشته، دده‌داغزلې‌له‌دانسینګر اددخټیخ پوهنې‌دانستیتوت په‌خطي مجموعه‌کې درحمن بابا ددیوان د هغې خطي‌سخې په‌ټولوپاڼو کې‌کښل‌شوې چې په ۱۹۰۱ نمره هوري‌ساتله‌کیږي.

عبیدالله

دهمدې پنځمې برخې دو همه نمره پاړکې دعبیدالله نومې شاعر دی. دا پاړکې دبابوجان ددعای سریانی دهغې خطي په‌نسخې وروستیو پاڼوکې کښل

۹۰-فرهنګ زبان‌و ادبیات پښتو ج۱ ص۱۹

شوی چې په ۱۹۰۱ ز نو سره د لنډنګر اد د ختیځ پو هنې د انستیتو ت په خطي مجموعه کې ساتل کیږي. د اپار کې پر و فیسور د و رن په خر ستو ماتي کې هم اخیستې دي (۹۱) د اعبیدالله څوک د ي؟ مو ږ ته د عبیدالله په نامه پنځه تنه شاعران معلوم د ي چې، به د نو کې څلو ر یې د کندهار د سیمو کې دي . یو عبیدالله د عبدالجلال زوی د سپر بان الکو زي نسبي دی ،چې په ۱۲۹۷ هـ ق کال کال یې د محبوب الصالحین په نامه یو دیني کتاب د رشیدالبیان د سبك په پیر وي په نظم مثنوي کښلی دی د د مثنوي د اسي شر و ع کیږي:

پس له حمد له صلوة گو ر مځ و ایم و تاته

عقل نقل مو افق د ي هم پر د ې باند ي ناطق د ي (۹۲)

بل عبیدالله غزل یو ل د ي، چې د حمید په جو اب کې یې یو ه غز له ما پید ا کړې، او په ګلز ار ر و ه کې خو ند ي ده (۹۳) د ې غز لي مطلع داده:

---

۹۱ ـ د و رن ،بر نهارد ،پښتو منتخبات د ۱۳۶۲ هـ ش کال چاپ کابل پښتو ټولنه دولتي مطبعه ص ص ۲۸۳-۲۸۴.

۹۲ ـ محبوب الصالحین (خطي) لو سړی پانه ،ب مخ د افغانستان د علو م اکاد یمی خطي نسخه.

۹۳ ـ هیو اد مل، زلمی ،ګلز ار ر و ه د ۱۳۶۳ هـ ش کال چاپ . کابل پښتو ټولنه . د و لتي مطبعه ص ۳۵.

چې داهسې دلر بامه جبين ته يې

درنگينو دلبرانو رنگيز ته يې

دکندهار دسيمو دوه نور عبيدالله نومي شاعران ، اپه فرهنگ کې ښو ولي دي(۹۴) ماچې ددغو سيمو آثارو کتل او پيلامې د عبيدالله په نامه دغه پارکې ورسره مقابله کړي دي پارکې او دکندهار دسيمو دنورو عبيدالله نومو شاعرانو د آثارو ترمنځ هيڅ ډول شباهت نه وموجود، نو ځکه زه وايم چې دا شاعرله معلومو عبيدالله نومو شاعرانو پرته بل شاعر دی ، چې د ديارلسمې پيړۍ په حدود وکې به يې دکندهار په شاوخوا سيمو کې ژوند کړی وي . دکندهار په سيمو کې ځکه، چې لنډيګر اد ته وړل شوي نسخې زياتره دکندهاراوهرات لهسيمو هورې وړل شوي دي. البته له کندهار يو عبيدالله نومو شاعر انو پر ته مويدوه نور عبيدالله نومې هم لروچې د واړه غزل بول شاعران دي .يو د مياعمر څمکنۍ زوي چې په احمدي شهرت لري او بل عبيدالله همه دی چې يه بهارګلشن کې بې شعر ونه راغلې دي. د دغو دوو روستيو شاعرانو دغزلو سبک ددې فهرست په پټځمه برخه کې دعبيدالله په نامه دخوندي پارکې له سبکه ټکاره تو پير ه نه اري.

---

۹۴ ـ فرهنګ ادبيات پښتو ج ۱ ص ص ۳۳۳ ـ ۳۳۴.

پای : دا دعا چې عربی وه مثال ونه دطوبی وه
بابو جان غریب پښتو کړه دا گلونه دسپرلی وه
و هر که خواند دعا طمع دارم زانکه من بنده گنه کارم . . . .

«۱۱»

قصیده سر یانی (دعای سر یانی)

و یونکی او مترجم : بابو جان ؛ دلیکلو کال : نامعلوم ؛ خطاط : نامعلوم دخطاطی کال: نامعلوم ؛ خط : نسخ ؛ دپانو شمیر : ۷ ؛ دهر مخ کرښی : ۱۵ ؛ کچه : ۳۶ × ۱۷ سم ؛ دمتن کچه: ۱۸ × ۱۲ سم ؛ کاغذ: نری، لاسی خړ ؛ پښتی : چرمی گلدار ؛ نوسره : ۱۹۰۱ ؛ کتابخانه ؛ ؛ دلنینگراد دختیځ پوهنی انستیتوت.

خصوصیات : ددعای سر یانی دغه نسخه دمیرزا خان او رحمان باباله دیوانو نو سره یوځای گډل شوې . نسخه خطاط ددرې کرښیز و سر و او تو رو جدولونو تر منځ کښلې ده . خطاط ددعا عربی متن په تو رمسیاهی دیو کرښیز سره جدول په منځ کې او تر ې لاندی پښتو ترجمه یی هم دیو کرښیز سره جدول تر منځه کښلی ده . ددعای سر یانی دانسخه دمیرزا تر دیوان و روسته راغلی ؛ دعاچې ختمه شوی په نسخه کې ځینی نورې پانې هم شته، چې په یو مخ کې یی پارسی منظومات دي او عنوان یی دادی : بیان عصبات تصنیف فقیر حسن بن عبدالله په بل مخ کې د عبیدالله پښتو منظومه کښل شوې ده .

پیل ؛ تر بسم الله و روسته :

انالموجود فاطلبنی تجدنی
فان تطلب سوایی لم تجدنی

پاینده

ددې کتاب دپښتو یو خو درېم پارکی دپاینده په نامه دیو شاعر دی . داغزله په هغه جو نګ کې راغلې ده ، چې دلیکنې راوخت څخه پوهنې دانستیتوت په خطی کتابونو کې دمیرزا دیوان له نسخې سره سم دی . دمیرزا دیوان داخطی نسخه په ۱۱۸۱ هـ ق کال کښل شوی ده ، او په ۲۴۵۱ نوسره په نومورې کتابخانه کې ساتل کیږي .

دپاینده داپارکی په جو نګ کې دخوشحال ، عبدالقادر او دولت له شعر و نوسره یو ځای خوندي دی . دپاینده په نامه ماته په ارغو نو شاعرانو کې کوم شاعر نه دی معلوم . په دې توګه مو پردې کتاب په وسیله پاینده ده له پارکی سره ادبي ځیر-نو ته و پاندې کو و ، داشاعر ددو لسمې پیړۍ ښکاري . دده په باب اضافي معلومات له مو پسره نشته ، خو پارکي یې دپښتو په کندهاري لهجه کښل شوی دی ، کیدون لري چې دکندهار د سیمو و ي .

صدیق

دهمدې پنځمې برخې څلور پارکی دصدیق په نامه دیو شاعر دیوې اولسي بدلې څو خو اره و اړه بیتونه دي . دا بیتونه دکندهار په پښتو لهجې کښل شوی دی ، او داتري ښکاره معلومیږي چې شاعر یې دکندهار دسیمودی . اوس مو پرګو رو چې په کندهار کې مو پردصدیق په نامه شاعر لرو او که نه ؟ دصدیق په نامه مو پردوه

کندهار ی شاعر ان پیژ نو چې، یو یې : ملامحمدصدیق پو پنزی ددو لسمی پیړی شاعر دی او محمدهو تك یې شرح حال په پته خزانه کی راوړی او یوه بدله یې و رته خو ندی کړی ده، دبدلی کسر او یو بندیې دلی کاږم :

لکه بلبل چې بی له گله بل ارمان نه اري

همسې یې یاره بنه هیله عاشقا ن نه اري

*

چې ژړا کاند بی له یاره بل مطلب نه لرم چې همسې سو ریمه په و ینوبل سبب نه ارم

بی یاره نو رخه نه غواړم نو رمطلب نه لرم

چې څو کلمې سې بی له یاره بل ارمان نه لري (۹۵)

بل محمدصدیق اخو ندزاده هو تك دی، چې د ۱۲۵۰ هـ ق یه شاو خوا کی په کندهار کی اوسیده. ده هم په اولسی او زانو بدلی ویلی دي او غزلی هم لري چې د خوبدلو کسر یې دلته لیکم :

اې گلبدنه سیمین تنه پري دې ستایم که ملك

مهر او مرشر مو پې ته په مجال ددې فلك

*

سر به تر قربان کړم که له ماسره یار یار و خوت

دو دسی له پر هار و خوت (۹۶)

---

۹۵ - پته خزانه ص ص ۶۵ - ۶۶ .

۹۶ - پښتانه شعراء ج ۲ ص ص ۳۵۴ - ۳۵۵

او سرپه دې کتاب د صدیق د راغلی بدلی یو بند وګورې:

زړګی دې راز خمی کی ه زه ناری و هم له غمه
دغه خو ار بشر می دود سوستاله جو راو له ستمه
زړګی ی دې زخمی کی ه چی په رنځ دې سبتلا کړم
راسه وفا و کړه جفاسه کړه یاره سر مه

دا بیتو نه چی سړی وګورې ،نو دامی ښکارې چی سبکی خصوصیا تو له پلوه د ملا محمد صدیق پو پلزي پاڼ کی ته نیږدې دی ،او زما داباور دی چی دا بیتو نه د ملا- محمد صدیق پوپازي دي ،نه د صدیق اخو نزاده .ځکه د ده د بیتو نو روحیه له هغی شرحی سره هم سمه ده ،چی محمد هو تلك د ملا محمد صدیق پوپلزي په احوا لو کښی کښلی ده . سربیره پردې د صدیق اخونزاده شعر که او اسی دی او که د یوانی ډیر پوخ دی د ملا محمد صدیق پوپلزي هغه بدله چی پتی خزانی راو ړې او دا بیتونه د واړه قوی نه دی صعفو نه پکی لیدلشی.

فتح علی

دلینګر اد ختیځ پو هنی په انستیتوت کی چی د حمید د دیوان کوونه نسخه محفوظه ده ،د هغی په پای کی د فتح علی په نامه یو غزله هم د راغلی ده . کنه چی ما د دې نسخی له مایکرو فلم څخه د عبدالحمید سوموند د د یوان د متن په ترتیب کی استفاده کوله ،نو می داغزله هم رانقل کړه او چی کله می ګډ ار روه ترتیبا وه نو می دا غزله په هغه کتاب کی شا مله کړه . اواوس می د دې کتاب په پنځمه برخه کی کی هم راو ړې ده ،او دا بـه پـه غالب ګمان د هغه فتح علی و ې چی د دولسمی-

پیړۍ په حدود کې یې ژوندکاوه ،او دنوو څیړنو له مخې داسې ښکاري چې فتح علي په قام ختک و (۹۷).

نبو

دانینګراد ختیځ پوهنې دانستیتوت په خطي مجموعه کې په ۱۰۸۰ نومره دعبدالرحمن موسند ددیوان یوه خطي نسخه خوندي ده .ددې نسخې دنسخې پانې په الف مخ کې په بل خط یوه مثنوي کښل شوې چې و یونکې یې نه ښکاري او ملا دامثنوي ددې کتاب دپیځمې برخې په ۶ نومره کې را اخیستی ده .

همدا ډول دنسخې ۸۰۳ پانې ورسته و راچول شوې ده، په دې پانه کې دنسخې د خطاط په خط یوه اوسې بدله کښل شوې ده،ددې بدلې دویونکې نوم هم نه دی ښکاره ،یو احتمال شته چې دا پاڼه کې دې دخطاط،مددهمایون و ي .دا پاڼه کې ۷ نومره او پې دی، همدار نګه په همدې پانې کې دنبو په نامه دیو شاعر یوه غزله هم خوندی ده،چې ما په دی فهرست کې په ۸ نومره راوړې ده .

موږ په خپلو شاعرانو کې دنبو په نامه شاعر پیژنو چې نوم یې عبدالنبي و، دی دعبدالشکور زوی دی ، چې په ۱۲۸۶ هـ ق کال د کندهار دباګو ان په کلي کې زوکړې و . ددې مشرحال پښتانه شعراء (۹۸) راوړې دی ،او د کلام په نمونه کې یې دده اوسې پاڼه کې خوندي کړې دي،خو ماچې دنبو دزوکړې کال و کوت

---

۹۷ - ګنزار روه ص ۶۶ ص ۹۳ .

۹۸ - پښتانه شعراء ج ۳ د ۱۳۲۰ هـ ش کال چاپ ،کابل پښتو ټولنه عمومي مطبعه ص ص ۸۲۸ ، ۸۲۹ .

او بیاسی ارو پاته ددی نسخی درسیدلو تاریخ و کوت ،نو داراته ښکاره شوه چې په دې نسخه کې راغلی غزله ددغه نبونده اوداڅکه پردې نسخه چې کوم یادښت پروفیسور ډوورن کښلی دی،د ۱۸۵۸ ع کال تاریخ لري،اودڅیبولسکی د تقویم له مخې ۱۸۵۸ ع کال له ۱۲۷۵ هـ ق کال سره برابر یږي (۹۹) .

بیاسی ذهن ته داخبره راوګرځیدله چې دا غزله به د عبدالنبی بیتنی کندهار ي وي چې ،د پښتانه شعراء دو هم ټوک یې شرح حال. راوړې دی،اوددیوان خطی نسخه یې په ملی آرشیف کې خوندی ده. مادا نسخه ټوله وکتله یو خبره داچې د نبوداغزله پکې نه وه،او بله داچې دا سړی د خپلو غزلو په مقطع تو کې خپل نوم (نبی) او عبد النبی راوړي نه نسبو .

نو او س سړی و یلای شی چې دانبو په بل سړی وي چې ،ښایی د دولسمې پیړۍ په اواخر او او ددیارلسمې پیړۍ په اوایلو کې به یې د کندهار په سیمو کې ژوند کړی وي، چې دادی یوه غزله یې موږ ته لاسه کړې ده .

علم ګل

که څه هم د علم ګل په نامه یو غزلسرا شاعر د ادبی ستوري (۱۰۰) فاضل مؤلف لنډ معرفی کړی دی .مګر د غه علم ګل چې غزله یې په یو کاغذ ګوتې کې کښل

---

۹۹ - څیبولسکی -تاریخی تقویم د ۱۹۶۳ ع کال د مسکو چاپ ص ۱۰۴

۱۰۰- (برېښ) ادبی ستوري ج ۱ ۱۳۵۳ هـ ش کال . پښتو ټولنه کابل دولتی مطبعه .ص ۷۷ .

شو ي اوپه يوه پاکټ کې دلينګراد د ختيځ پوهنې دانستيتوت په خطي مجموعه کې ساتل کيږي. زما په ګومان دا هغه عالم ګل نه دي چې ادبي ستوري بې غزلې اوشرح حال راوړي دی، دا (علم ګل) بل سړی دي، چې ددوو لسمې پيړۍ شاعر ښکاري له دې يوې غزلې پرته يې نور څه ماته نه دي معلوم .

بابايخان

دبابايخان کومه غزله چې مادديې کتاب د پنځمې برخې په لسمه نومره او پې ده .دلوړ يادشوي (علم ګل) له غزلې سره په يوه کاغذ کې مخ ټ کښل شوې ده، او دلينګراد د ختيځ پوهنې دانستيتوت په خطي مجموعه کې په يوه پاکټ کې ساتل کيږي .ددې پاکټ نومره په هغه انستيتوت کې ۱۹۶۳ الف ده .

دابايخان ګومان ته په نيږدې حدس هغه بايخان نه دی چې، غزله بې ادبي ستوري لوړې ټوکې راوړې ده، او هم دليلي مجنون دناظم بايخان بونيږي پرته بل شاعر دی، دبايخان په نامه داغزله اوهم په ګلزار روه (۱۰۱) کې دبايخان په نامه راغلې غزله ښايي ديوسړي وي . داغزله او د ګلزار روه غزله ديو مسلک تابع دی ،اوديوه سړي له خواويلې ښکاري .مادګلزار روه په تعليق ۹۲ مخ کې هم ديوشک اظهار کړی و ،اوس زه داشک پر ځای بولم او وايم چې دابايخان چې غزلې بې په ګلزار روه او ددې کتاب په پنځمه برخه کې راغلې دي، يوسړی دی، اوغالباً د کلات او

---

۱۰۱ ـ هيوادمل ، زلمي (ټولوونکی) ګلزار روه د ۱۳۶۳ هـ ش کال چاپ کابل پښتو ټولنه . دولتي مطبعه ص ۶۵ .

غزنی ترمنځ یر تو سیمو کی یی ژوند کاوه .دی ددو لسمی پیړی داو اخر و او ددیارلسمی پیړی داو ایلوشاعر ښکاري .دده دو ینا سبك او لهجه دغزنی او کلات ترمنځ دپرتو پښتنو دلهجی نماینده گی کوي اوما چی په گلزار روه کی دده کومه غزله راو ړې ده ،داغزله مې دمفتاح الدقایق له هغی نسخی رااخیستی ده چی دغزنی په شاو خوا کی کښله شوې ده داسې ړی له بای خان یونیری بیل سړی دی.

محمد

دلنینگراد ختیځ پوهنی دانستیتوت په خطی کتابونو کی دفوایدالشریعت یوه خطی نسخه محفوظه ده .ددی خطی نسخی په پای کی د محمد په نامه دیوه شاعر یو غزله کښل شوې ده.

داغزله دیوه داسی شاعر ده چی د کندهار دسیمو شاو خوا اوسیدونکی به و . او دا ځکه چی داغزله د پښتو د غربی لهجی دیوه و یونکی له خوا ویلی شوی ده، دالهجوي ځانگړنی داسی نه دی چی د کښنی په وخت کی به د کښونکی له خوا په دی غزله کی واردې شوي وي ،بلکی دغزلی جوړښت د پښتو دغربی لهجی تابع دی، لکه دانیم بیتی : (داتر ابه مانه وړل چی به یارله ماجدا کا)

یادانمونې : (ولاړه په ارمان) ، (ماپه وژنی) ، (یار ی ځنی بیل کړی ه). د کندهار په سیمو کی موټه محمد په نامه دوه شاعران معلوم دي، چی یویی د هوتکی دورې نومیالی شاعر محمد هوتك دی او بل محمد ددینی علوموا و تجوید عالم دی، چی یو عمر په بخارا کی هم اوسیدلی دی . د خزینة القراء او فرض عین

په نامه دوه کتابونه تري پاتی دي .په خزینةالقراء کی دده خپلی غزلی هم راغلی دي،او پښتانه شعراء یی هم خپلی غزلی اخیستی دي . زه دده دغو غزلو مطلع او مقطع دلی راوړم :

محمد غریب چی کړی دا بیان دی — شر منده د نفس له لاسه نا ست حیران دی
محمد! لایق له کومه د کتاب شوی — ستا پیشوا غوث الاعظم شاه شاهان دی

* *

محمده بس کـــــړه ژاړه — خپل مقصود له خدایه غواړه
محمد غریب مهجوردی — خوار خسته خانه ویجاړه

* *

نفس شیطان راته ظاهر جوړ کړی باغ دی
او تر لا نـدې دام ایـښی دزړه داغ دی
چـی همـیـش دزړه رضـا کړی محمده

دچا رپای په خیردي ځکه صورت چاغ دی (۱۰۲)

او دا یی هم دیو ي عاشقانه غزلی مطلع او مقطع چی پښتانه شعراء(۱۰۳) هم اخیستی ده .

چی سوخته ژوندی دهجر پـه سخت او روي
تـر داهـسـی ژوند ، پـه دی چی په گورو ي

---

۱۰۲ – دالو پي غزلی مادخزینةالقراء له خطی نسخی څخه اخیستی دي .

۱۰۳ – پښتانه شعراء ج ۳ ص ۸۳۴ .

چې گفتار کاندي په عشق کې بې کراره

محمد دا په سينه کې پيغور وي

په خزينةالقراء کې دمحمد راغلی تو لی غزلی ما وکتلی د خپل جوړښت اونورو سبکی خصوصیاتوله پلوه ددې کتاب په پنځمه برخه کې دمحمد په نامه له راغلی غزلی سره هیڅ ډول اړخ نه لګوي ،ددغه محمد غزلی ځانله خاص جوړښت لري او د محمد په نامه داغزله ځانته بیل جوړښت او ځانګړنی لري . داغزله چې د بخارایی محمد نه وي نو غالباً به دمحمد هوتک وي ؟اوس به دمحمد هوتک د غزلی مطلع او مقطع هم دلی راوړو:

ساقی پاڅه دسر و ملو یو ډک جام را ستا له غمه نارام یمه آرام را

یه او بوسی سوړزړګی لږ څه راتود که

(محمد) ته د او ر ډک یو هسی جام را

او داهم دمحمد په نامه د شاعر تر بحث لاندې غزله :

نه کړې په هیڅ چا باندی صرفه هجر انه ته یار دې له مابیل کړما په دوه ستر گو کاته

داتر ابه مانه و ل چې به یار له ماجدا کا ځکه می په ځیر دیار و مخ ته نه کاته

مه وایه خندان ګل دې بیل کړله بوستانه و لاړه په ارمان بلبل له ګلو الواته

تو ربانه دې غشی ناوکی کړما په وژنی و لی صرفه نه کړې تر زړګی می وخاته

نجونه زلمی واړه تور وخاور واړه دروسی تو راو ربل و څنی و لحدته پر یواته

و لاړه د... (۱۰۳) کړه و لاړه نه ستنیږي

یار پې ځنی بیل کړی «محمد» یی و نا ته

---

۱۰۳ ـ دلته یو تکی ماو نه لوستلای شو .

که سو ډوا ډې و روستی غزلی و گو رو د ډې ر و مشتر کو خصایصو لر و نکی دي . دستن ډو هنی او سبکې و هنی داساسا تو له سخی دو ا ډې غزلی ډیر نز دیکتو نه او تو لی هغه ځانگړنی لري چې د ډښتو ددو لسمی پیړی په غزلو کی لیدلی شی . زما دایقین دی چې د دې کتاب د پنځمی برخی یو ولسمه نوسره غزله له محمد دهو تک څخه پر ته د بل شاعر نه شی کیدای .

دلته یو بله خبره داهم دیادو نی و ړه چې په و رکه خزانه (۱۰۵) کی هم د محمد په نامه یو غزله خو ندي ده چې زه یی مطلع اومقطع دلته راو ړم:

چې د ډې بیاله ډیره قصده و رته څښ کړ
خو ار عاشق دې نه که بیا په غمو پښ کړ
ستاد غمه «محمد» مري ته خو شحالی کړې
سر فراز دې په دا کار کی رقیب مښ کړ

داغزله ځانله بیل خصوصیات لري چې دلو ړو غزلو له خصایصو بیل دي .

سیف الله

د کتاب د پنځمی برخی د و لسمه او د یار لسمه نو مره پاړه کی د ډښتو دو ډې او لسی بدلی د ډې چې مادلنینگر اد دختیځ پو هنی په انستیتوت کی د خو ندي مذهب نامتی له خطی نسخی څخه ر ااخیستی دي .

---

۱۰۵ – خلیل ، همیش ، و رکه خزانه د ۱۹۶۰ ع کال چاپ پیښور ۲۶۰ – ۲۶۱ مخونه .

زه سو جمو دیم همیشه　　که طلب لرې درویشه
مابه نه سو سی هیڅکله　　چې دنیا شوی درته
که طلب کړې مابه سو سی　　زه دې بو لم رانڅ دې شه
پای : داقصیده چې عـر بی ده　　شاله و نی دطو بی ده
بابو جان غر یب پښتو کړه　　دا گلو نه دربیع ده
دخدای رحم ته امید کړم　　ودعاو ته یې له یارانو دنبی ده

. . . القصیدة المبارکه المسماببدعاء سر یانی من یدالفقیر الراجی الی الرحمة الله تعالی اللهم اغفر لی و لمن قراءها و لمن حفظها و لمن کتبها و لمن سمعها و لمن علمها و لمن تعلیمها و صلی الله علی خیر خلقه محمد و آله و اصحا به اجمعین بر حمتك یاارحم الراحمین .

«۱۲»

مخزن الاسلام

لیکوالان : اخوند درویزه او کر یمداد ؛ دلیکلو کال : نامعلوم ؛ خطاط: عثمان ؛ دخطاطی کال: ۱۱۴۱ هق ؛ خط: نسخ ؛ دپانو شمیر : ۱۶۱ ؛ دهر مخ کر ښی: ۱۳ ؛ کچه : ۲۰ × ۱۳ ؛ دستن کچه : ۱۳ × ۹ سم ؛ کاغذ : لاسی ؛ پښتی : چر سی ضر بی ؛ نو سره : ۲۴۴۵ ؛ کتابخانه: دلنینگر اددختیځ پوهنی انستیتوت.

خصوصیات : دمخزن الاسلام په دې نسخه کی داخوند درویزه رسایل او هم دکر یمداد دنمانځه ترجمه او الف نامه خو ندي دي . نور ملحقات نه لري . نسخه په عادي نسخ خط دوه کر ښیز و تو رو جدو لو نو تر سنځ کښل شوې ده ؛ او د

ددې بدلو شاعر سیف الله نوسې د اسیف الله زمونږ په پښتو تذکرو کې نه دی موندلی شوی، یوازې په فرهنګ زبان وادبیات پښتو کې دده یادشوی دی، هلته راغلی دي: سیف الله د کندهار د سیمو شاعر دی د دیارلسمې پیړۍ په حدود کې ژوند کړی دی. دده خطی غزلی لیدل شوي دي (۱۰۶) د سیف الله یوه خطی غزله مادملی آرشیف د پښتو نسخی د یوی خطی نسخی په حاشیو کې لیدلی وه. دا دوه او لسمې پاڑې د همدې سیف الله دي.

علی اکبر اورکزی

علی اکبر د قاسم خان اورکزي زوی د خیبر د سیمو اوسیدونکی و. د احمدشاه بابا د زمانې شاعر لیکوال او مصور دی (۱۰۷). ده په پښتو او پارسی ژبو شعرونه ویلی دي، او په پارسی یې ځینې منظومې او سنیوړ آثار هم شته. دده یوه پښتو رثانیه پو لله ما په دي مجموعه کې راا خیستی ده. د ابوالله د خوشحال خان - په رثا کې ویل شوی ده. که سړی په عادی نظر و رته وګوري نو داتري ښکاري چې علی اکبر به د ابوالله د لوی خان خوشحال خان ختمک په رثا کې ویلی وي، مګر خبره داسې نه ده، د ابوالله اکبر د لوی خان خوشحال خان د کودي د هجري د کړوسی د افضل خان د لمسی اود سعدالله خان د زوی، خوشحال په رثا کې ویلی ده، چې دا سړی زمونږ په ادبی

---

۱۰۶ - فرهنګ زبان و ادبیات پښتو ج ۱ ص ۲۳۵

۱۰۷ - یختانی عبدالله (خیرندوی) پښتانه شعراء ج ۴ د ۱۳۵۷ هـ ش کال چاپ کابل پښتو ټولنه ۷۹ مخ.

څیړنو کی د خوشحال خان شهید په نامه یاد شوی دی (۱۰۸) خوشحال شهید د علی اکبر او ر کز ي معاصر دی، خو شحال خان شهید په ۱۱۷۲ هـ ق شهید شوی دی (۱۰۹)

۱۰۸ - پښتانه شعراء ج ۱ ص ۲۸۲ .

۱۰۹ - فر هنگ ادبیات پښتو ج ۲ ص ۳۱۴ .

دماخذو نو فهرست

۱ ـ ابراهیم ، قصهٔ زقوم (خطی) زماد کتابخانی خطی نسخه .

۲ ـ اثر، عبدالحلیم (قاضی)، تیر هیر شاعران، پښتوا کیډیمی، پښور، ۱۹۶۳ع .

۳ ـ الفنستون سونټستوټرا ، دکابل سلطنت بیان ؛ دپوهاند دکتر حسن کاکړاو سو بمن ژباړه ، دپښتو څېړنو بین‌المللی مرکز ، کابل ۱۳۵۹ هـ ش.

۴ ـ (بریښنا) ، ادبی‌ستوری، لومړی‌ټوک، پښتو ټولنه، کابل ، ۱۳۵۳ هـ ش .

۵ ـ (بریښنا) ، ادبی‌ستوری دوهم‌ټوک ، دکلتور او هنر ریاست، کابل، ۱۳۵۹ هـ ش .

٦ -(بر یښ) ،دسر ه غر ه گلو نه ،بر یښ کتاب پلور نځی ، کابل،۱۳۵۷ ه ش .
۷ - بلو سهارټ ، د برټش میوزیم پښتو نسخی ، لندن ، ۱۹۰۵ ع .
۸ - بلوشه ، دپار یس دملی کتابخانی دخطی نسخو فهرست ،پار یس .
۹ - بو ر کو ی ، د فغانستان خطی نسخی ،قاهر ه ، ۱۹۶۴ ع .
۱۰ - پښتو ټو لنه ، پښتا نه شعر اء (در یم ټوک) ، کابل ، ۱۳۴۲ ه ش .
۱۱ - پهوال اوحکیم، ۱۷۵ کاله پخوا دپښتوژ بی په باب څېړنې ،وړه ۲ گڼه کابل پو هنتون ۱۳۵۶ ه ش .
۱۲ - حبیب الله ، دحبیب الله دیو ان ،پښتو ټو لنه ، کابل ، ۱۳۶۰ ه ش .
۱۳ - حبیبی ، عبدالحی (علامه) پښتانه شعراء (لوړی ټوک) ، پښتو ټو لنه، کابل ، ۱۳۲۰ ه ش .
۱۴ - حبیبی ، عبدالحی (علامه) گلشن افغان ، و ړه ۴ - ۵ گڼه ، کابل پو- هنتون ، ۱۳۴۷ ه ش .
۱۵ - حسین ، ډاکټر محمد بشیر، فهرست مخطوطات شیرانی لو ړی ټوک، لاهور، ۱۹۶۸ ع .
۱۶- خانعلوم ، داحمدشا با با داشعارو پښتو شرح ،داکادمیسین ر شادپه زیار دپښتو انکشاف ، کابل ، ۱۳۵۶ ه ش .
۱۷ - خدمتگار ، عبدالله (څېړندوی) ، پښتانه شعراء خلورم ټوک ،پښتو ټو لنه کابل ، ۱۳۵۷ ه ش .
۱۸ - خدمتگار ، عبدالله (څېړندو ی) د علی اکبر ... ، کابل مجله (پښتو ټو لنه) ۱۳۴۵ ه ش کال
۱۹ -خلیل ،همیش،و ر کهخز انهدو هم ټوک، پښو رد. ۱۹۶۰ ع .

۲۰ ـ خوشحال خټک ، کلیات خوشحال، اداره اشاعت سرحد، ۱۹۶۰ع .
۲۱ ـ خیرمن ، بسم‌الله ، دلنینگراد دختیځ بیژندنی انستیتوت و پیمه (کابل ـ پوهنتون) ۳ ـ ۴ ګڼه ۱۳۴۳ هـ ش.
۲۲ ـ خیبولسکی ، تاریخی تقویم ، مسکو ، ۱۹۶۴ع .
۲۳ ـ دورن ، برنهارد (اکادمیک) خریستومانی (مقدمه) د کاندیداکادمیسین روهی ژباړه ، پښتو ټولنه ـ کابل ، ۱۳۵۶ هـ ش.
۲۴ ـ دورن ، برنهارد (اکادمیک) د تاریخی او فیلالوژیکو څیړنو بولتن، پترزبورګ ۱۹۰۸ع .
۲۵ ـ دورن ، برنهارد (اکادمیک) د تاریخی او فیلالوژیکو څیړنو بولتن.
۲۶ ـ دولت لوانی ، ددولت لوانی دیوان ، پښتو ټولنه ، کابل ۱۳۵۳ هـ ش.
۲۷ ـ راورټی ، هانری جارج، د پښتو ګرامر ، لومړی چاپ، کلکته، ۱۸۵۰ع.
۲۸ ـ رحیم، رحیم شاه ، پښتو مجله د سټمبر ګڼه ، پښتو اکیډیمی ، پیښور، ۱۹۸۶ع .
۲۹ ـ رشاد ، عبدالشکور (اکادمیسین)، د پښتو تجوید دنو تاریخچه، سخارج ـ الحروف ، پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۵۹ هـ ش .
۳۰ ـ رشاد، عبدالشکور (اکادمیسین) د ګلشن روه مقدمه ، ګلشن روه ، د پښتو انکشاف ، کابل ، ۱۳۵۶ هـ ش.
۳۱ ـ رښتین ، صدیق‌الله (پوهاند) ، د پښتو ادب تاریخ ، پښتو ټولنه ، کابل ۱۳۲۵ هـ ش.

۳۲ - رښتین ،صدیق‌الله (پوهاند) د پښتو نثر تاریخچه ، کابل مجله (پښتو تولنه) ۱۱ - ۱۲ گڼه ۱۳۴۲ هـ ش.

۳۳ - رښتین ، صدیق‌الله (پوهاند) پښتانه شعراء (دوهم توک) ، پښتو تولنه کابل ، ۱۳۲۱ هـ ش.

۳۴ - رښتین ، صدیق‌الله (پوهاند) ، د حسین نثر ، د پسه پنځمه شپږمه گڼه (کابل پوهنتون) ۱۳۴۱ هـ ش.

۳۵ - رضوانی ،میر احمدشاه ،بهارستان افغانی ، لاهور ، ۱۸۹۸ ع .

۳۶ - رضوانی ، میراحمد شاه ، شکرستان افغانی ، لاهور ۱۹۰۰

۳۷ - رکن‌الدین ، قانون القرائت ، دهلی .

۳۸ - ربردست ، روضة‌النعیم (خطی) دملی آرشیف مخطوطه .

۳۹ - عبدالرحیم مولوی ،لباب‌المعارف‌العلمیه ، اگره ، ۱۳۱۸ هـ ق .

۴۰ - عبدالقادرخان ختک ، د عبدالقادر ختک د یوان ، د پیښور ۱۹۷۲ ع .

۴۱ - عبدالله ، فتا وای احمدشاهی ، فاروقی مطبعه ،دهلی .

۴۲ - عبیدالله ، محبوب‌المسالحین ، خطی نسخه ، د افغانستان د علومو اکاډیمی.

۴۳ - قلندر ، حبیب‌الرحمن (مومند) د رحمان بابا د کلیاتو مقدمه، پیښور ، ۱۹۸۴ ع .

۴۴ - کوشیف، ولادیمیر و اسیلوویچ ، د لنینگراد د ختیځ پوهنی د انستیتوت د پښتو نسخو فهرست ، مسکو ، ۱۹۷۶ ع .

۴۵ - کوشیف ، د پښتو خطی کتابونه ، مسکو ، ۱۹۸۰ ع .

۴۶ - گل‌محمد (حافظ) احمدشاهی شاهنامه (ضمیمه) پښتو اکاډیمی پیښور، ۱۹۶۰ ع.

۴۷- محمد ، خزینة القراء (خطی) د افغانستان دعلومو اکاډیمی نسخه.
۴۸ - سریم (بی‌بی) دپښتو نثر تاریخی او تنقیدی جایزه ، پیښور ، ۱۹۸۶ع .
۴۹ - ښتری ، عبدالقدیر ، فهرست نسخ خطی پښتو ی آرشیف ملی افغانستان، د کلتور کمیټه ، کابل ۱۳۶۵ هـ ش .
۵۰ - میرحسن هروی، نافع المسلمین ، دملی آرشیف او اکادیمی خطی نسخی .
۵۱ - میکنزی، دبریتانیا د کتابخانو دپښتو خطی نسخو فهرست ، لندن، ۱۹۶۵ع .
۵۲ - نفیسی ، سعید، تاریخ نظم و نثر فارسی ، دو هم ټوک ، تهران ۱۳۴۴ هـ ش
۵۳ - هوتک ، محمد ، پته خزانه ، عکسی چاپ، دپښتو انکشاف ، کابل، ۱۳۵۴ هـ ش.
۵۴ - هوتک ، محمد معصوم ، شمس الدین غلجی ، زیری (پښتو ټولنه) ۱ - ۴ گڼه ۱۳۶۵ هـ ش .
۵۵ - هوتک ، محمد معصوم، داحمد شاه بابا د دیوان خطی نسخه، زیری (پښتو- ټولنه) ۷ - ۸ گڼه ۱۳۶۵ هـ ش .
۵۶ - هیواد مل ، زلمی ، فرهنگ زبان و ادبیات پښتو تألیف و ترجمه کابل - ۱۳۵۶ هـ ش .
۵۷ - هیواد مل ، زلمی، فرهنگ ادبیات پښتو، ج ۲، کمیته دولتی طبع و نشر و نشر کابل ۱۳۶۵ هـ ش.
۵۸ - هیواد مل ، زلمی ، گلزار روه ، پښتو ټولنه ، کابل ۱۳۶۴ هـ ش .
۵۹ - هیواد مل ، زلمی ، دهنددکتا بخانو پښتو خطی نسخی ، دافغانستان د علومو اکاډیمی ، کابل ، ۱۳۶۳ هـ ش .
۶۰ - هیواد مل ، زلمی ، دعبد الحمید موسند دیوان مقدمه ، پښتو ټولنه ، کابل ، ۱۳۶۳ هـ ش .

٦١ - هیواد مل ، زلمی،دنور محمد غلجی دنافع المسلمین مقدمه،د کلتور ریاست کابل ، ۱۳۶۳ هـ ش .

٦٢ - هیواد مل ، زلمی ، دمستشرقینو انتخابات ، دافغانستان دعلو موا کادیمی ، کابل ، ۱۳۶۴ هـ ش .

٦٣- دهواسیل ، زلمی(تولوونکی) دامریکروړ یادښتونولنه کابل-۱۳۶۴ هـ ش.

٦٤-هیوز، کلیدافغانی،دښتوانکشاف دخیړندی و بختانی په ژمار، کابل،۱۳۵٦ هـ ش.

مننه او یادونه

دغو لاندې ښاغلو او میرمنو ددې کتاب د چاپ دچارو په بیلابیلو برخو کې له ما سره مرسته کړې ده:

۱ ـ دمانو تایپ دخانګې مدیر او مرستیال : زلمی محمود داود صوفی حیات الله .

۲ ـ دمانو تایپ دخانګې ټولې: عبدالسالم آخونزاده، اوکارګر انو عسکر، نثار احمد، مختار، مهتاب، فهیمه، نجیبه او نور رضیا .

۳ ـ د کمپستر دخانګې کارکوونکو : ښاغلی احمد ضیاء، افغانی او نصر الله .

۴ ـ د کیبورد دخانګې کارکوونکو : ښاغلی عبدالمالک، نورمحمد او معصومه .

۵ ـ د حروفی چاپ د خانګې کارکوونکو : محمد بشیر، پیر محمد، غلام علی او علی محمد.

۶ ـ د حروف چینی د خانګې کارګر انو : ښاغلو عبدالحکیم او سیدامان .

۷ ـ د صحافی دخانګې کارکوونکو : محمد سرور، سیف الرحمان، رحیم الله او الله محمد .

زه له دغو ټولو ښاغلو کارګر انو څخه د زړه له کومې مننه کوم .

په درناوی

ز . ه

B
1.12
HEW
5906

A Catalogue of Pashto Manuscripts in Some libraries of Tashkent, Doshambe, Irawan, Moscow and Leningrad

by

Zalmy Hewadmal

Published

by

Academy of Sciences of

Afghanistan

Kabul. 1987

دو اړو تو رو جدو لو نو تر منځ فاصله یې په زیړ رنګ رنګو لې ده . نسخه په تو ر ، سیاهی کښل شوې ؛ عناو ین یې په سره رنګ دي . دنسخې ځینې بر خې شلیدلې دي بیاچا بل چا په ساده ډول دبلې نسخې له مخې پوره کړې دي . نسخه حاشیو کې هم ځینې کښنې لري ، او د لومړۍ پانې په الف مخ کې په شکست خط په یوه اړو پایې ژبه بو یادښت هم راغلې دی . دایادښت د ۱۸۵۸ ع کال یوه نیټه هم لري ؛ په ب مخ کې نسخه شروع شوې ده .

پیل : سبحانك الهم و بحمدك : پاکې ستاده ،، پاکه خدایه، چې راغله ده له ځایه

پای : اې تاریکه خو که ناتمامه ملعو نه

غو چې څه سحر دې و کړ * چې سر یدې دې کړ...

تمت الکتاب مخزن الاسلام در شهر شوال من ید فقیر عثمان بن سراج الدین سنه ۱۱۴۱ بود که تحریر یافت .

«۱۳»

مخزن الاسلام

لیکوالان : اخوند درویزه کریمداد او نور . . . دلیکلو کال : نامعلوم ؛ خطاط : فاضل محمد ؛ دخطاطی کال: ۱۱۶۶ هـ ق ؛ خط : نسخ ؛ دپانو شمیر : ۲۵۲ دهر مخ کرښې : ۱۳ ؛ کچه : ۲۲ نیم × ۱۵ سم ؛ دمتن کچه : ۱۶ × ۸سم ؛ کاغذ: ملتا نی ؛ پښتی : چرمی په تو کر پوښل شوې ده .

نومره : ۲۴۸۳ ؛ کتابخانه : دلنینګراد ختیځ پوهنې انستیتوت .

خصوصیات : دمخزن الاسلام یوه بنه نسخه ده چې د پیل او پای له خوا بشپړه ده. نسخه ددې کرښیږو سره او تو رو جدو لو نو تر منځ په ډیره بنه نسخ خط په

تو ره سیاهی کښل شوي او عناوین او نومونه یکی په سره رنګ راغلی دي په ځینی مخونو کی یی په یوه اړو پایی ژبه په شکست خطځینی یادښتونه هم شته. په نسخه کی داخوند له رسایلو سره بیره د کر یمداد الف نامه، مخمس او نورمنظومات هم شته. نسخه د عبدالحلیم او مصطفی محمد ملحقات هم لري. د مخزن له دي نسخی سره داشعار و یوجونګ هم مل دی چی د ځانګړي اثر حکم لري او دیوه جلا اثر په توګه به د دي فهرست په دو هم څپر کی کی معرفی شی.

نسخه په پیل کی یوه میناتوزي لوحه هم لري؛ د دي لوحی پر سر په شکست خط په یوه اړو پایی ژبه یو یادښت کښل شوی دی؛ چی د دي یادښت دلیکلو نیټه ۱۸۵۸ عیسوي کال دی.

د نسخی ۳ - ۶ پانی لویدلی دي؛ بیا بل چا په بنه نسخ خط د بلی نسخی له مخی لیکلی او دا نسخه یی پري بشپړه کړي ده.

پیل؛ تر بسم الله و روسته:

په نامه د حق آغاز کړم

او س له حق سره به راز کړم

پای: مهمات اهم دین را بنابر جمعیت یاد گیرد، امید که چون کافه مسلمانان ازین منفعت یابند.

بدعا نیك یاد دارند، و الله اعلم بالصواب. هذه النسخة المیمونة المبارکة الشریفة المخزن الاسلام بلسان الافغانیه مصنفه شیخ المشایخ در ویزه قدس سره العزیز و معلوم باد که جامع تالیف این کتاب کر یمداد بن مخدوم در ویزه قدس سره العزیز، تمت بعون الله تعالی کتاب مخزن الاسلام سنه ۱۱۶۶ کاتب فاضل محمد ولد ملا عبد الغنی عرف افغان کاسی ام ساکن بلده دارالامان ملتان.

«۱۴»

مخزن الاسلام

لیکوالان : اخوند درویزه ګر یمداد او نور ... دلیکلو کال: نامعلوم؛ خطاط : نامعلوم؛ دخطاطی کال : نامعلوم ؛ خط: نسخ؛ د پانو شمیر : ۱۲۲؛ دهر مخ دکرښې: ۱۱؛ کچه: ۲۰×۱۵سم؛ دمتن کچه: ۱۵×۱۲سم؛ کاغذ : خوقندی ؛ پښتی : چرمی ؛ نومره : ۲۴۴۹ ؛ کتابخانه : دلنینګراد دختیځ پوهنې انستیتوت.

خصوصیات : داخوند درویزه دمخزن الاسلام یوه ناقص الاول اوناقص ـ الاخر نسخه ده ، چې په ساده ډول په ډیرعادی نسخ خط په تورهسیاهی کښل شوې ده. دګر یمداد ، عبدالحلیم او عبدالرحیم ځینی ملحقات هم پر ګډدي . نسخه ځینی لویدنی هم لري ، دنسخې رکاز و نه سر مسر نه خوري.

پیل ، (موجود) :

بیغم ګړی یوه علی آل محمد کما صلیت علی ابراهیم انك حمید مجید. هم کرم دنبی پر پیروان .

پای : جلال ډیر بدي و ګرله فقیر له مسافر زیات له خدای.

«۱۵»

مذهب نامه

لیکوال : شمس الدین ؛ دتالیف کال : ۱۲۰۰ هق ؛ دلیکلو کال: نامعلوم؛

خطاط : نامعلوم؛ خط : نسخ ؛ د پانو شمير : ۳۹ ؛ د هر مخ کر ښی: مختلفی : (۱۹-۲۰-۲۲-۲۳) کچه : ۲۴×۱۳سم؛ دستن کچه: ۱۹×۱۱سم؛ کاغذ: رنګه (خوقندي، آبی،شکري)؛ پشتی: نه لري؛ نومره: ۲۴۴۸؛ کتابخانه: دلنینګراد دختیځ پوهنی انستیتوت .

خصوصیات : دمذهب نامی دغه نسخه په ساده ډول په ډیر معمولی نسخ خط په توره سیاهی کښل شوې ،په حاشیو کی هم کښنی لري .د کتاب په پیل کی دمعراج او دحضرت محمد(ص) په پیدا ښت او بیادپیغمبر انو په خصوص کی خبرې لري. و رپسی دزړو عاشقانو نومونه اخلی ؛ دآدم درخانی یادهم پکی شته . و رپسی دامام اعظم (رح) په مذهب او بیادده دشاګردانو په باب مفصل بحث لري او دمعتبرو کتابونو په استنا ددوی په باب ځینی حکایات هم راوړي. د کتاب په وروستیو برخو کی دځینو تصوفي طریقو دمشا یخو په باب هم څه خبرې لري.

دموجودي نسخی داولی پانی په الف مخ کی دسیف الله دوې اولسی بادلی خوندي دي. دنسخی په ب مخ کی مذهب نامه پیل شوې ده .

پیل(تر بسم الله وروسته) :

الحمدالله رب العالمین و الصلوة و السلام علی سیدالمرسلین و علی عباد الله الاتقیاو المرسلین و علی جمیع الاولیأ و الصالحین : دا کتاب مذهب نامه .

تألیف شوي په زړه دوسومسنه

اعلم ته زده کړه ای طالبه چی په شپه دمعراج رسول دخدای عرض وکړ ؛چی یاالهی هغه ستاشفقت مکنونه ، او هم سبب نزول غفر الله لامة ضعیف محمدیه فی نجات یوم القیامة کوم دی چی زماوزړګی شی هغه په تکیه ستادوستی به زماپراست. و ماته بشکاره شی حق تعالی و یل حبیبه : !

وسط : په حیرة الفقهه کی هم په تواریخ او لیاکی دابیان راوړی شمس الدین نور په زبان دافغانی دی کوتاه کړی . بل دامام اعظم یو شاګرد شیخ ابو الفضل کرمانی وه یو دیر ښ کاله په بخارا کی مقالی وه .

پای : فنا دمخلوقات هر دو جهانی دی . داعالمان مجتهدان دظاهر علم په داهر یو ه زړ مسره سوصوفی وه مشایخ دطریقت هم کاملان دمعرفت هم درنایاب دحقیقت په دا او ه انواع زړ مسره سوصوفی وه : په سر صادالعباد می دابیان راوړی شمس الدین دی ستاد پاره کوتاه کړی .

« ۱۶ »

مناقب غوث الاعظم

و یونکی او مترجم : رکن الدین ابن منیر ؛ دنظم کال : داحمدشاه عصر ؛ دایکلو کال : نامعلوم ؛ خطاط : نامعلوم ؛ خط : نسخ ؛ دپانو شمیر : ۲۱۶ ؛ دهر مخ کرښی : مختلفی (۱۴ - ۱۶ - ۱۸) کچه : ۲۰ × ۱۳ ؛ دمتن کچه : ۱۵ × ۱۰ سم ؛ کاغذ : ایرانی (مشهدي) ، پښتی : چرمی ګلداره . نومره : ۲۲۰۹ ؛ کتابخانه : دلنینګراد ختیځ پوهنی انستیتوت .

خصوصیات . درکن الدین د مناقب غوث الاعظم یوه ناقص الاول نسخه ده ، چی په ساده پول په عادي نسخ خط په تورسیاهی او ځای په ځای متن په آبی رنګ لیکل شوی دی . عناوین په سره رنګ دي ، دنسخی خط په یوه معیار نه دی . کله یی قلم غټ او کله وړدی ، رنګونه یی هم تبدیل شوي دي . داسی معلومیږي چی یا به نسخه څو خطاطانو لیکلی وي او که یو سړي هم لیکلی وي په وقفو یی لیکلی ده . خط یی هم په بیلابیلو برخو کی فرق کوي . دورو ستی پانی یوه برخه یی شلیدلی

«۱»

دینی، فقهی او عرفانی کتابونه

«۱»

الف نامه

ویونکی: میرحسین هروی، دو یلو کال: ۱۰۷۰ هـ ق، د لیکلو نیټه: نامعلومه؛ خط: نستعلیق و زمه نسخ، خطاط: ملاحسن؛ دپانو شمیر: ۱۱؛ دهرمخ کرښې: ۱۱؛ کچه: ۲۰×۱۵ سم؛ دمتن کچه: ۱۷×۱۱ سم؛ کاغذ: هندی؛ پښتی: چرمی؛ نومره: ۲۳۴۶؛ کتابخانه: دلنینگراد د ختیځ پوهنې انستیتوت.

خصوصیات: د میر حسین یوه الف نامه ده، چې دغزلو یا غزل وشمه او پد و نظمونو او توتو (قطعو) په چوکاټکی نظم شوې؛ دټولوغزلواوپاړکو شمیر یې ۲۸ دی؛ میرحسین دالفبی هر توری په یوه غزله یاقطعه کښې شرح کړی دی.

نو نه ښکاري چې چالیکلی ده. ددې نسخې په او لودو و پانو نې پارسی نظمونه ر اغلی دي ؛ دد و همی پانې په و روستی کر ښه کې پښتو عبارت داسی پیل شوي دي :

چې بسم الله الر حمن پسی رحیم کړم　　پیر وي د خطنی قدس قدیم کړ م

په نامه د غالب خد ای قادر قیو م　　په کاغذ ښکو م چر کنه مکتو م

د نسخې په ٦ ٢ مه پاڼه کې ددې کتاب د تالیف د سبب د ښو و لو په بر خه کې و ایی :

او س غلام د و لایت ابن منیر

د قلم په ژ به کادار نګ تقدیر

چې ما ښکو لی په پښتو خو قو اعدو و

پکې نغښتې له قر آنه فو اید و و

د ٢٨ پانې په ب مخ کې د احمدشاه بابا په باب و ایی :

چې ددې کتاب پښتو ته ار ز و شو ه

بادشاهی شاید ر و زې د پښتنو شو ه

بادشاهی د چهار چو غه احمدشاه شو له

د ده مخ د کفر شا په تیښته شو له

د ٢٩ پانې په الف مخ کې ر اغلی دي :

اهل دین ډې و اړه تل په دعا شی

چې دې فتح د غاز ي احمد بادشاه شی

احمدشاه بادشاه ر و ان دی

په سهم د هندو ستان دی

پای: زه په‌خیال دده چو رچو ریم

هر چه و ایمه سعذو ریم

داسن گیر می دلوی پیر یم

بی پر وا ابن منیر یم

دنسخې‌نو ر ې پاتې بر خې‌دشلیدلو له‌امله داستفادې و رنه‌دي .اته‌بیته‌بې‌له استفادې‌و تې دي ،تر دې اتو بیتو نو و روسته لیکل‌شوي دي : تمام‌شد، شیطان من‌غلام شد،بیادشهادت کلمه ده .

« ۱۷ »

نافع المسلمین

لیکو ال‌او ستر جم : میر حسین هر و ی ؛ دتکمیل کال : ۱۰۷۰ هـ ق ؛ دلیك کال : نامعلوم ؛ خط : نستعلیق و زمه نسخ ؛ خطاط : ملاحسن ؛ دپانو شمیر : ٦٦ ؛ دهر سخ کرښې : ۲۱ ؛ کچه: ۲۰ × ۱۵ سم ؛دستن کچه : ۱۷ × ۱۱سم؛ کاغذ : هندي ؛ پښتی :چرمی ؛ نو سره : ۲۴۴٦ کتابخانه ؛ دلنینگر اد د ختیځ پو هنی انستیتوت .

خصو صیات : دنافع المسلمین دغه نسخه‌د پیل له‌خو ا لږلو یدنې‌لر ي .خو دپای له‌خو ابشپړه ده،د پیل‌له‌خو ادځینو پانو څخه‌پې‌سو لیدلی‌دي‌او بیاو رو سته‌سر ست شو ې دي . نسخه‌په ساده ډو ل په‌تو رمسیاهی کښل‌شو ې‌ده .عناو ین بې‌په‌سر ه

رنګ کښلی دي؛ ددو همی پانی د ب مخ د سر مت په بر خه کی یو کوچنی بیضوي سهر لګیدلی دي ؛ چی نه لوستل کیږي. د نسخی تر سو جو د پیل د مخه په نسخه کی یو ه سپینه پانه شته ده چی د الف مخ په برنی بر خه کی یی په یو ه ارو پایی ژ به په شکست خط یو یاد داشت لیکل شو ی دی ، چی تار یخ یی د ۱۸۵۸ ع کال دی .

په دي اثر کی له ځینو متفرقو رسالو او مضامینو سر بیره د حسین ځیثی مستقل آثار او ترجمی هم راغلی دي ، لکه : الف نامی (و ګ : الف نامی) نو رنامه (و ګ : نو ر نامه) او د خلاصة الاسلام ترجمه هم خو نډي د ه ؛ (و ګ : خلاصة الاسلام) .

سو جو د پیل: پر همه څیز دی ؛ هر چه دی له هغه و شی د هیڅ څیز د آفر یدن که او او ه طبق زمکی آسمانو نه ؛ د یو ه ماشی پسته په پو ستکی ځایو نه . . .

د نافع المسلمین مسجع بر خه تر الفنامو د مخه د اسی ختمه شو ي ده :

او په دار نګ د خدای رحم پر کیږي ؛ سو منان لره ډیر ي دي شادی په جنت کی. او س به و اړه په حساب نه را و ړ کیږي. په جنت کی نعمتو نه په شمار هم دیدار له جنته لیده کیږي . بیچاره حسینه را یشه پیر وي د پاک رسول کړه اختیاره ، که دي حو ر ي بر اقو نه د دیدار طمع دي کیږي .

پای : ز ر او یا کلو نه له هجر ته و و تیر شو ي ؛ چی تمام سی دا کتاب کړ ؛ هم سی سی چار شو له مز ہو د ، غه کسان دي په رحمت شی چی حسین بنده به یاد په فاتحه کاله اخلاصه له در و ده .

تمت تمام شد ، کار من نظام شد ؛ غریق رحمت آنکس باد که کاتب را بالحمد کند یاد کاتب ملاحسن .

«۱۸»

نو رنامه

و یونکی او مترجم : میر حسین هرو ي ؛ دو یلو کال : د ۱۰۷۰ هـ ق کال شاو خوا ؛ خطاط : ملاحسن ؛ خط : نستعلیق و زمه نسخ ؛ دلیکلو کال : نامعلوم د پانو شمیر : ۵ ، دهر مخ کرښې : ۲۱ ، کچه : ۲۰ × ۱۵ سم ؛ دمتن کچه : ۱۷ × ۱۱ سم ؛ کاغذ : هندي ، پښتی : چرمی ؛ نومره : ۲۴۳۲ ؛ کتابخانه : دلنینگراد ختیځ پوهنی انستیتوت .

خصوصیات : دنو رنامی دغه نسخه د میر حسین هرو ي دنافع المسلمین په ترڅ کی دیو ي ځانګړي رسالی په ډول راغلی ده . دا رساله هم دنافع دنو رومتونو په څیر په ساده ډول په تو ره سیاهی کښل شوې ؛ خو عناو ین او نومونه یی په سره سیاهی دي . دنو رنامی دانسخه دنافع د موجود متن داتمی پانی په ب مخ کی پیل شوې او د دو لسمی پانی په الف مخ کی پای ته رسیدلی ده .

پیل ، تر بسم الله و روسته :

دښه خدای ثنا به و ایم

چې ثنا پر خدای باندې ښایيږي .

و لی ډیره ده یی حده .

په هیڅا به پوره نه‌شوه نه‌به کیږي

دی قادر په هره چار دی.

هره چاریی له‌قدرته پیدا کیږي .

پای

دافقیر یو خاکپای دی دعلمانو

که‌ددو ی له برکته باري خدای پرو رحمیږي

فقیر حسین چې دابیان کړ

امیدوار دی دښه خدای له‌ښه رحمته

بل امیدیی دنبی شفاعت کیږي .

«۲»

دیوانونه او داشعارو منتخبات

نومړی برخه

دیـــوانـــونه

«۱۹»

داحمد شاه بابا دیوان

ویونکی : احمدشاه بابا ؛ دبشپړیدو کال : ۱۱۶۳ هـ ق ؛ خطاط : محمد ـ حامددرانی ؛ دخطاطی کال : نامعلوم ؛ خط : شکلی‌نسخ ؛ دپانوشمیر : ۱۵۹ ؛ دهرمخ کرښی : ۱۳ ؛ کچه : ۲۴ × ۱۴ سم ؛ د متن کچه : ۱۴ × ۷ نیم سم؛ کاغذ : وریښمین ؛ پشتی : چرمی ؛ نومره : ۴۲۵۲ ؛ کتابخانه : دتاشکند د ختیځ پوهنې انستیتوت .

خصوصیات : داحمدشاه بابا دديوان دانسخه په پیل کی یوه میناتوری لوحه لري او دهرنظم دمقطعاتو دواړه خواوې بې ډيرې ښکلی ګلکاري شوې دي . دنسخې هره پانه کی لومړی دوه کرښې طلایی جدولونه کښل شوي دي ، بیانسخه دشپږ کرښې وطلایی ، تورو او لاجوردي جدولونو ترمنځ کښل شوې ده . دنسخې په ټولو پانو کی مقطعات دچوکاټونو په منځ کی راغلی دي . دمقطعاتو دواړو خواوو ته ګلداره جدولونه شته ؛ دغز لیاتو او نظمونو د مقطعاتو سر په سر راغلی مسری ددوه کرښې وطلایی جدولونو په وسیله سره بیلی شوې دي . په ځینو پانو کی مقطعات په تورو رنګ راغلی دی . خو په ځینو نورو کی په سره سیاهی کښل شوي دي . په متن کی چې څه عنوانونه شته ، هغه په سره رنګ کښل شوي دي . دانسخه د ګلکاریو ، او نورو هنري ښیګنو او دخطدښه والی له امله دښې ټوپه خطی نسخو کی حسابیږي .

پیل :

نن دتادسر ولبانو می وما را
لوغړ نیم دادمی ولی وما را (کذا)
صبح وشام دې په دعاسر مشغول یم
دا زما صحت دستا زګیروی وما را

پای :

زړه چې یار نه وي چرې مدار که
دیار په یادو زړکی قرار که
که دیدن ی دیاری چرې نصیب شی
لکه بوراتر ګلوځان یی تر جار که

کتاب ختم شو په دوشنبی یار انو سو ږ ځو تاسی دلی
په آخر روځ دروژي سنه هزار وصد وشصت سی

(که) آرام و ربا ندئ نه وی بیا په صبر شی تسلی

(احمد) په دعا یاد کانی ء یار انو چه په کار پسی پروځ دخولی (کذا)

تمام شد بعون الله نسخهٔ دیوان الهام ترجمان تصنیف حضرت ظل سبحانی خلیفة الرحمانی خلدالله ملکه و سلطانه از دست خاک نعلین دردمندان دردیار خاکسار خدا یار امیدوار از انعام عام حضرت شاهنشاه حق پرست خدا دوست جامع ممالک و ملکوت حامی دین متین قاتل کفره بدآئین ابدالله دولته الی یوم الدین بحرمت سیدالمرسلین .

چو فقر اند رقبای شاهی آمد به تدبیر شه ظل الهی آمد

معرفت غلام و فدوی بارگاه بادشاه دار ادرگاه محمد حامد درانی امید که به معرض قبول افتد . بمنه کمال کرمه امین .

«۲۰»

دبابو جان دیوان

و یونکی : بابو جان ؛ دو یلو کال : نامعلوم ؛ خطاط : محمدعجب ؛ دلیکلو کال : نا معلوم ؛ خط : نستعلیق ؛ د پا نو شمیر : ۱۱۰ ؛ د هر مخ کرښی : ۲۳ × ۱۷ سم ؛ کچه : ۲۱ × ۱۵ سم ؛ دمتن کچه : ۱۸ × ۱۰ سم ؛ کاغذ : و ریښمین لاسی ؛ پشتی : چرمی (شلیدلی) نومره : ۱۹۰۷ ؛ کتابخانه : دختیځ پوهنی انستیتوت (لنینگراد) .

خصوصیات : دبابو جان ددیوان یوه ناقص الاول نسخه ده . د دفتر و نو خیال پکی نه دی ساتل شوی . دبابو جان د کلیات ځینی نسخی دوه دفتره دي . په دغه

نسخه کی دبابو جان تول آثار او ایجادیات همنه دي راغلی، نسخه په ساده ډول په تو ره سیاهی کښل شوی ، ځینی عناو ین او دشاعر نو م په سره رنګ پکی لیکل شوی دی. کاتب نسخه دنثر په دود کښلی ده .دسر یو دبیلتون لپاره یی ځلو رتکی په سر دسیاهی دسر یو تر منځ ایښی دي . دنسخی زیاتو مخونو ته دپای له خوا او به رسیدلی دی او ځینی برخی یی لږ څه تتی شوې دي .

موجود پیل : بیاد دوی د پیدایښت باندی باران شی

پای : داقصه که بس کړم نه تمامیږي

دزمکی پر مخ څو څو نامو ران و وهغه څه شوو

ددنیا په مینه څو عالم غولیدلی دی

غوندې څو څو خریداران و و هغه څه شوو

تم تمام شد .

و رپسی د کاتب دانظم راغلی دی :

بابو جانه خدای دې و بښه ددې کتاب له رو یه

چې دا هسی کتاب دې کړی په څو شان

موجزی (کذا) دنمانځه یی دي راوړي

ښایسته مسئلی ده پکی راوړي

څو صفت دبابو جان کړم

په نمانځه په روجه کی یی ښایسته ویلی کړي

بابو جانه خدای دې لوی لری دی جانه

څو صفت ستاددې خو یی کړم

په دوزخ کی په حصارشی په څو کاله

مخ یی تو رشی هم تر خدایه تر رسوله
چی ته بل ته نصیحت کړي محمد عجب به
مخ دی تو ردی هم تر خدای تر رسوله
بابو جان چی نو شته محمد عجب که

«۲۱»

د تیمور شاه دیوان

ویونکی : تیمور شاه ؛ خطاط : سرزا حاجی محمد ؛ دلیکلو کال : ۱۲۰۷ ه ق
خط : نستعلیق ؛ د پانو شمیر : ۷۹ ؛ د هر مخ کرښی : ۱۱ ؛ پښتو برخه : ۶۷ پانه
ب مخ ؛ ۷۷ پانه الف مخ ؛ کچه : ۲۳ × ۱۳ ؛ دستن کچه : ۱۷ × ۹ سم ؛ کاغذ :
کشمیري نازک ؛ نوسره : ۹۳۳ ؛ کتابخانه : د تاشکند د ختیځ پوهنی انستیتوت.
خصوصیات : داد تیمور شاه د دیوان یوه ناقص الاول نسخه ده ؛ نسخه په ښه
نستعلیق خط په تو رمسیاهی د پنځه کرښیز و تو رو ؛ آبی او ځلایی جدولونو تر منځ
لیکل شوي ده . په مقطعاتو کی دشا عرنوم په سره رنګ راغلی دي ، مقطعات
دیو کرښز سره جدولی چوکاټ تر منځ لیکل شوي دي .
پښتو برخه یی په لاندی ډول وړاندې کیږي :

نن می بیاله تو رو ستر گو سره جنګ دی
په لبانو یی د زړه دو ینو رنګ دی
که پر یکړی سر په لاس و رلره راشم
لا په دایی باور نه شی زړه یی سنګ دی

دا الف‌نامه دسیر حسین په نافع المسلمین کسی ضمیمه را غلی ده . دا الف نامه په‌ساده ډول په‌تو ره سیاهی کښل‌شوې ، اوپه‌الف‌نامه کی‌راغلی‌نومونه خطا ط په سره رنگ کښلی دي .

پیل :

الف اسم دالله دی بل سر مه‌گوره په پراته
د ی‌په‌ذات کی یگانه‌دی شریک نه‌لری له ذاته
هم‌ز نده‌په‌خپل‌وجود دی ترس یی نشته له‌سماته

پای : نیکخواه دې لږ د ښه دې ډیر دي
اې (حسینه) پاک الله دې نگاهدار شه

«۲»

الف‌نامه

و یونکی : سیرحسین ؛ دو یلو کال : ۱۰۷۰ هـ ق، دلیکلونیټه : نامعلومه؛ خط :نستعلیق و زمه‌نسخ ؛ خطاط : ملاحسن ؛ د پانوشمیر : ۹ ؛ دهر مخ کربنې : ۲۱ ؛ کچه : ۲۰×۱۵ سم ؛ د متن کچه : ۱۷×۱۱ سم کاغذ :هندي ؛ **پښتی: چرمی،**نومره : ۲۳۳۶ ؛ کتابخانه :د لنینگراد د ختیځ پوهنی انستیتوت .

خصوصیات : د حسین بله الف نامه‌ده ، چې‌په‌لومړی الف نامې پسې متصله را غلی .دادواړې‌الف‌نامې دنافع المسلمین له‌خطی‌نسخې‌سره‌ضمیمه راغلی‌دي‌دو همه الف‌نامه، ذالف نامو د برخی د ۱۲ مې‌پانې‌دالف مخ په وسط کی پیل‌شوې‌ده . الف نامه‌په‌ساده ډول‌په‌تو ره سیاهی کښل شوې ده .په نسخه کی‌حسینی‌را غلی

ستاد حسن لښکر راغی ځای پر ځای ئه‌سی
دعاشق دزړه میدان هرګوره تنګ دی
که‌ناوک‌سی پرسینه ولی پټ به‌نه‌سم
دعاشق له‌جوره تیښته دعشق ننګ دی
عشق او مینک پټول نه‌سی تیمور شاهه
چه پخپله ځان رسوا کاهغه رنګ دی

* *

هسی‌دی دیارصورت‌لکه ګلونه
لګ و هلی‌یی پرمخ دي شنه خالونه
تیر شه عمر دو صال په‌انتظار کی
اوس په‌زړه سی‌د هجران لګی اورونه
په‌رخسار باندې‌یی زلفی تار په‌تار کړې
دعاشقو اویزان په‌هر تار زړونه
دپټنګ په‌دود دیار په‌غمو وسوم
دبانو په‌ناوک ږدي په‌زړه زخمونه
رانه مینه خپل‌فدا کړه «تیمور شاهه»
څه په کاردي دفانی دنیا کارونه

* * *

څو به‌ګرځی په‌دنیا کی یکهمانه
خلاص به‌نه‌شی داجل له‌تیر کمانه
ته‌به‌هسی رنګ دخیال په‌توسن سوریی
ناګهانه به‌تیر شی له‌دې جهانه

و دې خپل عمل ته‌گوره شرمنده شه
دگناهو عفوه غواړه له رحمانه
ددنیا په‌ښو ښادیو منازیوه
له دنیاځخه ډیر تللی پر ارمانه
عمر درست په‌نادانی دربانديې تیرسه
وقت آخر دی ځان وژغوره له‌عصیانه
دسرو ر کاینات روی به شفیع کړم
گوندې خلاص‌یم رهاموسم له‌شیطانه
ته هاله (په‌ښادی) هوس کړه تیمور شاهه
که گذردې له‌دنیاسه باایمانه

پای : این کتاب‌بروز یکشنبه تمام‌شدفی‌تاریخ‌شهر ربیع‌الاول سنه ۱۲۰۷ بود که،میرزاحاجی‌محمد ولد میرزا محمد ناصر،منشی عالیجاه رفیع‌جایگاه مهسلطان مرادبی‌ولد مرحوم جنت‌مکان غفران جایگاه امیر عمده الامرا محمدانبال‌بی‌اتالیق این نسخه دردارالسلطنهٔ کابل تحریر یافت.

««۲۲»»

دتیمور شاه‌دیوان

ویونکی : تیمور شاه،دلیکلو(خطاطی) کال : ۱۳۰۵ هـ ق ؛ خطاط : ابراهیم صبحی؛خط :نستعلیق ؛دپانوشمیر : ۷۱ ؛ دهرمخ کرښې: ۱۱ کچه : ۱۳ × ۲۰ نیم سم ؛ د متن کچه : ۱۲ × ۸ سم ؛ کاغذ : خوقندي ؛ پشتی : چرمی گلداره ؛ نومره : ۱۲۸۹ ؛ کتابخانه : د دوشنبی‌دختنځ پوهنی انستیتوت.

خصوصیات : دتیمور شاه‌دديوان په‌دې‌نسخه کې هم‌دده دري پښتو غزلی خوندي دي.داغزلی ډيرې غلطی‌لري ،پښتو غزلی دنسخی د ٦٨ پانی‌په بسمخ کې‌پيل‌شوې او د ٦٩ پانی په ب مخ کې‌پای ته‌رسيدلی‌دي .

نسخه په توره سیاهی دجدو لونو ترمنځ کښل شوې ، دشاعر نوم پکی په‌سر رنګ کښل شوی دی .

پای : دیوان تیمور شاه را ازروی نسخهٔ الاصل بروز چهارشنبه ۲۳ شهر ربیع الاولی به سنه ۱۳۰۵ هجري تحریر نموده ، امید میکنم اگر سهوو خطایی به‌نظر قارئین‌مرصحت‌آئین‌آید، به‌نظرلطف اصلاح نمایند، ازمکارم اخلاق فضایل‌شایان‌بعیدنخواهدبود ؛ کاتبه‌احقر العباد ابراهیم صبحی‌عفی عنه.

«۲۳»

د عبدالحمید مومنددیوان

ویونکی: عبدالحمیدمومند ،خطاط :محمه فقیر ؛دلیکلوکال : عهد تیمورشاه (۱۱۸٦ - ۱۲۰۷ هـ ق)خط : نستعلیق ته‌متمایل نسخ، د پانوشمیر: ۸۵؛ دهر مخ کربښی : ۱۵ ، کچه : ۲۰×۱۱سم ، د متن کچه : ۱۵×۷ نیم سم ؛ کاغذ : هندی ؛ پشتی : چرمی ضربی ؛ نومره : ۱۸٦۳ ب ؛کتابخانه : د لنینگراد دختیځ پوهنی انستیتوت .

خصوصیات : د حمیدمومند ددیوان دغه‌نسخه د دری کربښیز وسر او آبی جدو لونوترمنځ په توره سیاهی کښل شوی . د شاعر نوم په‌مقطعا توکی‌په سره - رنګ راغلی دی؛ دمتن دهر بیت مسری دیوکربښیزسره جدول‌په‌وسیله‌سره بیلی شوی دی ؛ اودهرشعر مقطع دیوکربښیزسره چوکات‌په‌منځ کی‌لیکل‌شوې‌ده ؛خطی معمولی‌دی،دځینومخونوحاشیی کښنې‌هم‌لری،نسخه‌پانی‌پانی‌ده ؛امامکمله‌اوسالمه.

پیل: الهی د محبت سوز و گداز را په دا اور کی دسهی سمندر ساز را
تن پرور بلبل دی عیش که په گلو پر وا نه لره په او رز ساگدازرا

پای: دخدای د پاره د دوست په روی دی وه
د وفا دار وښکلو په خوی دی وه

چې یو ځل را شه تر سا حمیده
والله اعلم بالصواب وبالنون والضاد

تر دی و روسته په نسخه کی دفتح علی یو ه غزله خونډی ده (وګ: پنځمه برخه) بیاد نسخی دغه اختتامیه وینا را غلی د ه:

کتاب مستطاب معلی الالقاب از تصنیف فصیح السان عبدالحمیدخان در دربار شاهی باد شا مشهنشاه تیمو رشا ه غازی در دران خلد الله ملکه سلطانه وافاض علی العالمین و عادله و احسانه الهی امین یارب العالمین بتاریخ پانزدهم ماه شعبان مبارک باستخطاحقر العباد محمدفقیر ولد محمداعظم نقشبندی ساکن قریه اتمانزی در کندی مهمند طوا بیع (کذا) واحدشهر باگرام الحال مشهور به شهر پیشور است. به وقت نیک به اتمام و کمال رسید.

والله اعلم بالصـــــواب

« ۲۴ »

د عبدالرحمن مومند دیوان

و یونکی: رحمان بابا، خطاط: میرغلام محی الدین؛ د خطاطی کال: ۱۲۴۴ هـ ق؛ خط: نسخ؛ د پانو شمیر: ۱۱۹، د هر مخ کرښی: ۱۷؛ کچه: ۱۸×۱۰ سم؛ د متن کچه: ۱۳+۷ سم؛ کاغذ: سشهدی؛ پشتی: چرمی گلداره؛ نومره: ۹۶۵ الف، کتابخانه: د لنینګراد د ختیځ پوهنې انستیتوت.

خصوصیات : دا د رحمن بابا د دیوان یوه ناقص الاول نسخه ده چې په دوو دفترونو کې تکمیل شوی ده . دوهم دفتر بې د . ه پانې په الف مخ کې پای ته رسیدلی دی ؛ د همدې پانې په ب مخ کې بل دفتر شروع شوی دی . نسخه په تور ه سیاهی په ښه خطددری کرښیز وسراوآبی جدولو نو ترمنځ لیکل شوي ده. په نسخه کې د بیتونو مسری د یو خطیز سره جدول په وسیله سره بیلی شوي دي . دغزلو مقطعات دیو خطیز سره چوکاټ ترمنځ لیکل شوي دي. د غزلیاتو او نورو نظمونو په مقطعاتو کې د شاعر نوم په سره رنګ راغلی دی . دنسخې په حاشیو کې په بد خط ځینې عبارات لیکل شوي دي ، دنسخې په پای د عبدالحمید سومند داغزله هم راغلی ده:

بد دی نه سنی د لبر زماکاته
پروانه پر شمعې کاندی الواته

مقطع : په تمام جهان قراره قراری ده
په حمید د غم سغل راوخاته

دنسخې د پشتې په دریم مخ کې د صدیق په نامه دیوشاعر یوه پښتو بله کښل شوی چې په اولسي آهنګونو کې د ه، اوپه نسخه کې بې د کښنې تاریخ ۱۲۵۲ هـ ق دی (وګ : پنځمه برخه .)

پیل: هیڅ تغیر و تبدیل نه لري رحمانه
تل تر تله برقرار دی رب زما

پای : عاشقي دی هیڅوك نه ګڼي اسانه
داخبره ده دحد په هور ته ګرانه

وصال نه دی چاسوند لی بې هجرانه
ته له زړه سره اټکل وکړه رحمانه

تمت هذا لکتاب تصنیف عبدالرحمن عفی الله له باستخط فیر حقیر پر تقصیر میر غلام محی الدین گوالیري مشهدي ؛ در تاریخ ۹ شهر ذی الحجه الحرام یوم جمعه ۱۲۴۴ یکهزار دو صد و چهل و چهار تحریر یافت و تمام شد.

« ۲۵ »

د عبدالرحمن مومند دیوان

و یونکی : عبدالرحمن مومند؛ خطاط : نامعلوم ؛ دلیکلو (خطاطی) کال : نا معلوم ؛ خط : نسخ ؛ د پانو شمیر : ۱۳۷ ، دهر مخ کرښی : ۱۵ ؛ کچه : ۳۶ × ۱۷ سم ؛ دمتن کچه : ۱۸ × ۱۲ سم ؛ کاغذ رنگه (آبی - زیړ) ؛ پښتی : چرمی ضربی گلدار ؛ نومره : ۱۹۰۱ ؛ کتابخانه : د لنینگراد دختیځ پوهنی انستیتوت .

خصوصیات : درحمان بابا ددیوان دغه نسخه په عادی نسخ خط په توره سیاهی د دری کرښیزو تورواوسرو جدولونوترمنځ کښل شوی ده. دبیتونودسربیوترمنځ هم دوه کرښیزسره جدولونه کښل شوی دی اودهرشعرمقطع هم ددوه کرښیزوسرو جدولو ترمنځ لیکل شوی ده .

دنسخی په ځینو ځایونو کی د مطلع او مقطع بیتونه په سره رنگ لیکل شوی دی په مقطعاتو کی د شاعر نوم په سره رنگ را غلی دی . خو یو نیم ځای له خطاطه هیرشوی دی ؛ او یایی لاس نه دی ورسیدلی. د نامه ځای سپین پاتی دی .

په دیوان کی ددفتر و نوخیال ساتل شوی دی . د لوړی دفتر دنسخی ۱۳۳ مخ کی پای ته رسیدلی دی ؛ اوپرې پسی دولی په نامه دیوشاعردوې اردوغزلی کښل

شوی دی بیا دنسخی یو مخ سپین دی‌او په‌بل مخ کی دوهم دفتر شروع شوی دی . دو هم‌دفترد ۱۳۷ پانی په الف مخ کی پای ته رسیدلی دی .د همدې‌پانی په ب‌مخ کی یو اردو مخمس شروع شوی دی . ور پسی نو رو څلور وپانو کی اردو مخمسات غزلی او رباعیات راغلی‌دي ، چی‌د نظمو نوپه مقاطعو کی‌دشاعر نوم« ولی » دی .

ددیوان‌له‌شروع دمخه په‌پښتوپانو کی څینی‌عربی‌مطالب، ؛لکه؛ شش قفل او اسماء الحسنی او بیا د خواجه ګانو دطریقی دځینو مشرانو نومونه راغلی دي . ددغو دمخنیو پانو دیوه مخ پاحاشیه کی‌را غلی دي :

